# په اسلام کې د بشر حقوق

لیکوال پوهاند حبیب الرحمن هاله
ژباړن: محمد اکبر نیازی



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په اسلام کې د بشر حقوق

لیکوال:

پوهاند حبیب الرحمن هاله

ژباړن:

محمد اکبر نیازی

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: په اسلام کې د بشر حقوق

لیکـــوال: پوهاند حبیب الرحمن هاله

ژباړن: محمد اکبر نیازی

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنگي څانگه

ویــبپــاڼه: www.melitahrik.com

کمپوز: ژباړن

ډیزایـن: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکــال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۹۰)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

**سرلیک** **مخ**

**سریزه..................................................................................١**

**د ژباړن سریزه......................................................................٥**

**لومړی څپرکی: په اسلام کې د بشرحقوقو ته یوه عمومي کتنه........٦**

**د بشر حقوقو په اسلامي چوکاټ کې ازادي..................................٧**

**د بشر حقوق: د اسلامي او غربي فکر او عمل ترمینځ پرتلنه...........١٤**

**د حقوقو او ازادۍ قراني مفهوم ..............................................١٩**

**په اسلام کې د بشر حقونو ځانګې.............................................٢١**

**په غرب کې د بشر حقوق.................. ....................................٣٣**

**د بشر حقوقو اسلامي نسخه..................................................٣٦**

**الف: عمومي اساسي حقوق.................................................٣٧**

**ب: د یو اسلامي هیواد وګړو حقوق.........................................٣٧**

**ج: د دښمنانو حقوق..........................................................٣٨**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د: د ښځو حقوق.........................................................۳۸

اسلام دبشر حقوقو مسايلو د حل لارې په توګه............................۳۹

دويم څپرکی

په اسلام کې د بشر حقوقو عمومي تيوری.................................۴۱

۱ـ په بنستيزه نظامنامه کې د بشر حقوقو وده..............................۴۱

۲ـ په اسلام کې حقوق.......................................................۵۲

الف: مالوم او مجرد حقوقو..................................................۵۲

ب: نسبي او قطعي حقوق....................................................۵۳

ج: د خدای( ج) او بنده حقوق................................................۵۸

د خدای او بنده د حقوقو مشخصات.........................................۵۸

د: په شتمنۍ او په پورونو کې ټاکل شوی حق...............................۵۹

هـ: قانوني او ديني حقوق.....................................................۶۰

۳ـ په اسلام کې خپلواکي.....................................................۶۰

د خپلواکو اعمالو ډولونه......................................................۶۱

ټوله ايزه خپلواکی............................................................۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ټوله ایز واکونه........................................................................۶۷**

**۴ـ په اسلام کې دندې...............................................................۶۷**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل.
ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانې ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

دبشر حقوق زمونږ د ژوند بنسټیزه او په عین وخت کې د جګړې له مینځه وړونکې موضوع ده، که څه هم د لودیځو ټولنو سیاسي خوځښتونه او ټولنیز بدلونونه د رسانس دورې وروسته د پوهانو په اثار کې د بشرحقوقو د مفکورو ښکاروندویي کوي، خو په واقیعت کې دغه امر په دوه وروستنیو پیړیو کې خپله د نفوذ لار د غرب په لور پرانستله، د ملګرو ملتونو له جوړېدو او پرمختګ وروسته د بشرحقوقو د نړیوالې اعلامئې په چوکاټ کلکه مبارزه وکړه او په ورستیو لسیزو کې پرې ټینګار خورا زیات شو.

په بشرحقوقو د ټینګار عوامل د بیلابیلو سیاسي جریاناتو مخلتلفې دورې ګڼل کیږي پدې مانا ددې پرځای چې قانوني او اخلاقي صبغه ولري نو ډېر ځلي د سیاسي تکتیکونو په توګه کارول شوي، څرنګه چې په هغه وخت د فاشیزم او وروسته د سوسیالیزم په وړاندې وکارول شول او له هغوی سره سره اوس ترې د اسلامي بنیادګرایي په وړاندې ګټه اخیستل کیږي.

په یوه خبره، هر وخت چې د غربیانو ګټې له خطر سره مخامخ شوي نو د بشر حقوقو له لارې یې په وړاندې مبارزه او بیرته ترلاسه کولو لپاره یې کارولي، همدا د بشرحقوقو د ملاتړ د ادعا په رڼا کې وو چې دامریکې متحده ایالات یې د شوروي اتحاد او کویټ یې د عراق له تسلط څخه وژغورل او د سومالیا د سیاسي بحران د له مینځه وړلو لپاره یې خپل عساکر ولیږل. د سیاسي لارو په کارولو سره د بوسنیا د خلکو د حقوقو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتنې لپاره لاريون وشو ترهغــه پــورې چــې د بشــرحقوقو موضــوع د کرغېړنو انګيزو څخه جلا او په اســلامي اخلاقــي ميعــارونو ټينګــه او د قانون په چوګات کې ورته ځای ورنکړل شي نو د بشرحقوقود ملاتړ ادعا به له تشو شعارونو څخه بل څه نه وي، د بشــرحقوقو اعلاميــه چــې پــه غربي هيوادونو کې پرې ډېره تکيه کيږي نو دا يو غيرقــانوني ســند دی چې يو څو ښکاره مادې لري چې تراوسه د ملل متحد سازمان له لــوري نه دي تصويب شي او د هغې د عملي پلــي کولــو لپــاره تراوســه کومــه نړيواله اصولنامه نه ده جوړه شوې او تراوسه يې د اړوندو ادارو د پــرمخ بيولو لپاره کومه اداره نه ده رامينځته شوې او تراوسه يــې د مخــالفينو لپاره کوم مقررات او قوانين نه دي وضع شوي، محکمه نه ده رامينځتــه شوې، اوتر ټولو اړينه دا چې له همدا اوسه د ملل متحد سازمان غړو چې د امنيت په شورا کې د ويټو حق لري پخپل مينځ کې تبعــيض تــه لمــن وهي له دې سره سم کمزوري هيوادونو د بشرحقوقو د ملاتړ، ســاتنې او ادعا څخه هيڅ غوښتنه نشي کولای.

پداسې حال کې د بشرحقوقو د دفاع لوړ اوازونو د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د تيليغاتي وسايلو په وسيله د وګړو غوږونه يې کاڼه کړي دي

د دريمې نړۍ هيوادونه په ځانګړې توګه د اسلامي هيوا دونــو د اتبــاعو حقوق چې بې برخليکه او بــې دفــاع پــاتې دي اوس هــم د واکمنــو او سرمايه دارو خلکو له خوا ترپښو لاندې او د ملاتړ لپاره يې مدعيان هــم په ښکاره توګه مرسته نه کوي خو له بده مرغــه د بشــرحقوقو د ملاتــړ مدعيان يوازې په رسنيو کې د اړوند رپوټونو په خپرولو او تش په نامــه خبرو سره خلک غولوي. هيچا د متخلفانو لپاره کومه جزا ونه ټاکله او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې هم پر وړاندې خپل غبرګوونه وښودل هيڅ موسسه يا سازمان نشته چې د بشرحقوقو د متخلفانو په وړاندې يې قوانين وضع او په سمه توګه يې عملي کړي او احياً هم دا قوانين وضع شوي خو په بشپړه توګه په تيورۍ کې پاتې او په عملي ډګر کې هيڅ ډول اقدامات نه دي ترسره شوي ,که په رښتيا هم نړيواله ټولنه د خپلو غړو د بشرحقوقو ملاتړ کوي نو بايد د دبشرحقوقوتش په نوم نړيوالې اعلاميې او شعارونه څخه تيراو د غوره اسلامي کلتور له مخې يوه جهانشموله مسوده جوړه اوتصويب کړي ځکه اسلام سپيڅلي دين حقوقو بشر يوازې په تيوري ډول نه پيژني بلکې د عملي کولو لپاره يې داسې عادلانه او ګټور ګامونه پورته کوي چې نه نړيوالو په تير ژوند کې کړي او نه به يې په راتلونکي کې پورته کړي اسلام پخپل يو نيم زر کلن عمر کې ورته په بشپړه او ګټوره توګه پاملرنه کړې ده اسلام په داسې پراخه توګه دې لورې پاملرنه کړې چې د انسانانو دژوند پرمهال حقوقو ترڅنګ له مرګ وروسته حتا د جنين پروخت يې هم ځانګړي حقوق ټاکلي دي.

د نړيوالو اړتياوو ته په کتو سره په اسلامي پوهانو باندې ده چې تر نورو مخکې شي اوننيو بشرحقوقو کې له قراني او ايتونه څخه ګټه واخلي.

له نيکه مرغه چې په ۱۳۶۶ کال په ايران کې د بشرحقوقو د تدقيقې مطالعې لپاره په په اسلامي قوانينو او عقايدو ولاړ کنفرانس په لاره واچول شوچې پکې د نړۍ ډيرو اسلامي هيوادونو عالمانو ګډون کړي وو.همدا ډول هغه تحقيقي او ژورې مقالې چې په کنفرانس کې وړاندې شوې د يو اثر په توګه راټولې او جوړ شو حتا ددې کتاب ژباړه وروسته بيا په انګليسي ژبه هم چاپ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې په افغانستان کې د ازادو لیکولانو په اتحادیه کــې د کتــابونو د چاپ اداره پرانستل شوه نو ماله تیراثر څخه په ګټــې اخیســتنې، د دوه کتابونو لیکل ماته راوسپارل شول چې یو د په اسلام کې د ښځو حقــوق اوبل یې په اسلام کې د بشر حقوق زما په غاړه شول.

څرنګه چې لومړی رساله ډېر له انګلیسي ژبې څخه راوژباړل شــو نــو د کمپیوټر او نورې چارې یې هم ډیې په چټکې سره پای ته ورسیدې خــو له بده مرغه له مالي ستونزو له کبله ددې کتاب د یوکال لپاره وځنډېد د روان کال د دوبي په تودو ورځو کې د ازادو لیکوالانو د اتحادیې څخه د دویم کتاب د جوړولو پیغام خپور شو له یوې خواد دا چې د لومړي کتاب په پرتله د دویم کتاب موضوع یو څه پراخه وه او له بلې خــوا د هغــه د چمتو کولو موده هم ډیره لنډه وه او له دریم اړخه په هیــواد کــې روانــو وینې تویدونکو او ترینګلو چارو د مواد په راټولو کې ارام نــه پرېښــودم پداسې حال کې چې موندل یې هم خورا ســتونزمن وو نــو مــا هــم دې موضوع اجمالي کتنه خو ټولو اړخونوته وکړه ددې لپاره چې زیات وخت مې نه درلود او موضوع هم پراخه نوکیدای شي چې په ځینو ځــایونوکې راڅخه اشتباهات شوي خو دومره مې ترسره کړي چې یو لوستونکي ته ددې پوهه ورکړم چې په راتلونکي کي بې څوک له حقوقــو ســره لــوبې ونکړي. او په پای کې د افغانستان د ازادو لیکوالانو اتحایي په ځــانګړې توګه له پروفیسور رسول امین د اتحادیي مشر، د وفا د جریدې مســـول زلمی هیوادمل، له شهنواز جانباز، او لــه سیدحســـن پاچــا کمپیــوټري کمپووزر څخه یوه نړی مننه کوم.

پوهاند حبیب الرحمن هاله

۲۵ وری ۱۳۷۳    حیات اباد ـــ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړن خبرې

د لوی څښتن تعالی شکر ادا کوم چې دا دی د خپلو ژباړو لړۍ مې په اسلام کې د بشر حقوقو تر ژباړې پورې رواغځوله.
په اسلام کې د بشرحقوق کتاب چې د ښاغلي استاد پوهاند حبیب الرحمن هاله له خوا په دري ژبــه لیکــل شــوی او د بشــرحقوقو د بیلابیلو اړخونو په اړه ګټورې او په زړه پورې خبــرې او لارښــوونې لري پدې وتوانیدم چې پښتو ژبې ته یې راوژبــاړم ترڅــو پښــتانه لوستونکي هم له دې ګټور اثر څخه ګټه پورته کړي او هیلــه لــرم چې لوستونکي به پکې د بشرحقوقو اړوند د خپلو یو لړ پوښــتنو ځوابونه هم پیداکړي.
خو له څوکالو راهیسې چې زیږدلی یم د خپل هیواد او قوم ناخوالو ځورولم او له خپلو پښتنو مشرانو سخت ګیله من، لا تراوسه مې دا ګیله پرځای پاتی ده. د هغه احساس او مســولیت لــه مخــې چــې څښتن تعالی او د دې خپل غمځپلي قوم چې د ناپوهۍ په تور تیارو کې ژوند کوي په وړاندې درلود او د ژوند ترپایه به یې ولرم، نو مــا هم ددې مسولیت د ادا کولو لپاره د کتابونو ژبــاړې تــه چــې اوس مهال د پوهې په ډګر کې ورته ستره اړتیا لیدل کیــږي مــلا وتړلــه ترڅو د پوهې له اړخه ددې قوم او ژبې حق تر خپلې وسې ادا کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی
# په اسلام کې د بشرحقوقو ته عمومي کتنه

له کومه وخته چې انسان نړۍ ته سترګې غړولي په ځانګړې توګه هغــه وخــت چــې ټولنيز ژوند يې پيل کړ نو د تيورۍ له مخې د يو لړ حقوقــواو مکلفيتونــو څخــه هــم برخمن شول.
خو د بې شمېره نظرونو پر بنسټ لکه: د ټولنې افرادو د هغوی د حقوقو په ورکولو کې د واکمنو ناغېړي او يوازې په نوم د هغوی حقوقو ته پاملرنه او داسې نور...
پدې برخه ځيني اقدامات هم ترسره شوي، البته يوازې په اسماني دينونو کې، نه پــه تخيلي او په کيسو ولاړو دينونو کې؛ خو د بشردوستۍ په فلسفه کــې بيــا دا دواړه ( حقوق، مکلفيتونه) مهم او يو له بل سره لازم الملزوم ګڼل کيږي.
د هماغه اجتماعي ژوند له پيل څخه تراوسه پورې زمونږ ټوله تکيه په مکلفيتونو او د حقوقو اړوند فکرونه د لنډې مودې لپاره په عمل کې پياده شويدي.
يوازينی دين د اسلام سپيڅلی دين دی چې د اجتماعي ژوند په مختلفو برخو کې له هر ډول انساني تبعيض پرته دواړو برخو (مکلفيتونو او حقونو) ته بشــپړه پاملرنــه او انسانانو ته يې وړاندې کړې دي.
د قرانکريم له دقيقې او ژورې مطالعې وروســته دا جــوتيږي چــې انســان څــه ډول پيداشوی او له دې پيدايښت موخه څه ده؟
دغه راز دا حقيقت هم روښانه کيږي چې په اسلام سپيڅلي دين کې د نورو سياسي، ټولنيز او نظامي دينونو په خلاف د انسان اړوند حقوقو کلمه له وخته پکار وړل کيږي چې نطفې د مور په رحم کې ځای ونيوه،
اسلام يواځې ددې محدودې نړۍ حقوق نه، بلکې د ژوند او مرګ دواړو پړاوونو حقوق په روښانه توګه بيان کړي دي، په پوره ډاډ سره ويلی شو چې په اسلام سپيڅلي دين

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د نورو ټولو دينونو او نظامونو په پرتله د بشر د حقوقو لمن پراخه او په بشپړ ډول سره څېړل شوي دي.
ددې لپاره چې د اسلام په سپېڅلي دين کې د بشرحقوقو په اړه خبرې وشي نو دا اړين بريښي چې لومړی ازادي، حق او دنده د اسلام له نظره وپېژنو او وروسته خپل بحث ته راوګرځوو.

## په اسلامي چوکاټ کې د بشرحقوقو ازادي:

ستر څښتن تعالی انسان د يو عاقل او سالم حواس لرونکي موجود پيدا او د خپل ځانګړي رحمت له مخې يې ورته د سمو کارونو لارښوونې کړې دي. خو انسان پخپله د خپلو نفساني غوښتنو او ناسمو لارو په مخکې نيولو سره ځان په ځنځيرونو او مصيبتونو کې اخته کړ.
**روسو وايي:** انسان نړی ته په خپلواکه توګه سترګې غړولي خو پخپله يې په خان باندې ظلم وکړ او د همې ظلم له کبله په چټکۍ سره په ځنځيرونو وتړل شو.
خپلواکی د انساني روحئې غوښتنې په توګه د انسان ژوند د تاريخ په اوږده موده کې په بيلابيلو ډولونو سره رامينځته شوېده.
د اسلام فيلسوف علامه اقبال لاهوري پدې اړه وايي: د انسان لومړني مور اوپلار د ازادۍ د انګېزې په روښنايي کې مجبور شول چې له جنت څخه چې هلته د ازادۍ لپاره کومه برخه نه وه پر ېږدي او د عمل نړۍ ته راشي.
نوموړی فيلسوف داسې فکر کوي چې ګواکې د ازادۍ په چوکاټ کې د عمل د ترسره کولو امکان رامينځته کيږي، اسلام د عيسويانو دا نظر نه مني چې ادم عليه سلام د خپلې لومړنۍ ګناه له کبله له جنت څخه وويستل شو.
هرهغه څه چې د اسلام څخه وړاندې د يهوديانو د دودونو په اساس( دانسان نسب) فکر کېده د اسلام له پلوه د ازاد ژوند په لور د انسان تګ سره تعبيرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان په نسبتي په ډول ځمکې ته راتګ پخپلې ازادۍ ارادې سره وکړ ترڅو دلته ابدي ازادۍ ته لاسرسی پیداکړي او د خپلو اعمالو په ترسره کولو سره خپل ژوند تېر کړي.

د ازادۍ د ترلاسه کولو انګېزه چې د ژوند په هره برخه کې رامینځته کیږي هغه د ازمایښت په وړاندې دروي.

د بشر تاریخ د پرلپسې ازادۍ د موندلو څخه پرته بل څه نشي کېدای او دا ډول موندنه څو اړخیزه بڼه لري، لکه له اړتیا، وېرې، طبیعي ځواکونو، د همنوعو له ظلم، له بې عدالتۍ، موهوم پالنې، تعصب، له نژادي او قبیلوي وفادارېو ازادیو او په پایله کې په ځان باندې تمتیا( EGO_ Center ) ټول هغه څه دي چې د انساني ژوند د فعالیتونو اساس جوړوي.

انسان ددې ازادیو د ترلاسه کولو په موخه په تدریجي ډول بیلابیل پړاوونه تېر کړیدي او دغه ازادۍ مادي او معنوي بڼې لري.

مادي او معنوي ازادۍ دواړه یو له بل سره نه جلا کیدونکې اړیکه لري او په عین وخت کې یو د بل بشپړونکي هم دي. کله چې له دواړو څخه د یوه په لور پاملرنه کمه شي نو د پلټنې په لار کې یې بیلابیل خنډونه رامینځته کیږي.

ددې ډول ازادیو مادي لور ته له لازمې کچې زیاته پاملرنه او معنوي لور ته یې ناغیړي ددې لامل شوه چې معاصر تمدن له زیان سره مخامخ کړي.

دین د انسانانو د ازادۍ په لاره کې ستر کوښښونه او هڅې کړیدي. پداسې حال کې چې فلسفهې یوازې له عقلاني ازادۍ سره خپله مینه او علاقه ښودلې ده.

هنر او ادبیات له دواړه ډوله ازادیو سره په مختلفو مرحلو کې علاقه لري، پداسې حال کې چې د ساینس او ټیکنالوژۍ هڅې تل د مادي ازادۍ ترلاسه کولو په لور متوجه وي. د بشر ټول فعالیتونه د ازادۍ پلټنه او د انسان هر اړخیز تکامل د بیلابیلو ازادیو د تدریجي تحقق د پراخوالي څرګنداوی کوي.

د انسان تکامل جلا او په عین وخت کې له بیولوژیکي تکامل سره مبارزه کوونکی دی، د لومړي تکامل سیر د دویم تکامل له سیر چې په بشپړه توګه جبري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

میخانیکي ده په پرتله د انسان اراده او غوښتنه د ازادۍ ترلاسه کولو په لار کې پرېکنده او حیاتي رول لري.

اسلام د انسان د پیدایښت د تکامل پرمهال چې بشریت هغه وخت متوازنو مادي او معنوي ازادیو ته اړتیا درلوده د ټولو ازادیو په وړاندې د تجسم په توګه مبارزه وکړه، اسلام په هغه وخت کې چې مادي پرمختګ په جنیني ډول وو، د راتلونکي چټک پرمختګ لپاره یې د مادي برخې وړاندوېنه وکړه، البته د حکومت او انساني ټولنې د راتلونکي پرمختګ وړاندوېنه د الهي معنوي لارښود ضامن دی. دهمدې واقیعت پربنسټ په ځغرده ویلای شو چې اسلام د تلپاتې لارښوونې زمینې برابرونکی دی، دغه راز اسلام ټولو ازادیو ته په پاملرنې د انسان د راتلونکي تکامل وړاندوېنه هم کړېده، پداسې حال کې چې د اسلام سپیڅلي دین له ظهور سره سم د انسان ذهن د ستر بشریت دپیدایښت په نامحدودو امکاناتو باندې د پوهیدا توان نه درلود ځکه هغه تراوسه د ازمایښت او تجربې عقلاني وسایلو ته وده نه وه ورکړې. قرانکریم د وروستنۍ الهي وحي په توګه اجتماعي، سیاسي او اقتصادي پرمختګونو په برخه کې ټولو علمي او اخلاقي اصولو ته په پام سره د انساني لارښوونې ستره وسیله وه.

په بیلابیلو برخو کې د خپلواکیو د اړتیا عظیمي حد د نورو ازادیو د پلټنې لپاره زمینه برابروي.

دا قراني اعلامیه چې ښتن تعالی دین بشپړ او ورسره یې د انسانانو لپاره پکې بیلابیل نعمتونه هم ځای پرځای کړي او دا ددې استازیتوب کوي چې انسان کولای شي خپله ازادۍ په پوره ډاډ او انرژي سره له اسلامي لارې څخه ترلاسه کړي، اسلام د ټولنې، دولت او فرد په اقتصادي فعالیتونو که پر فردي کچه وي او که په ټوله ایزه کچه اغیز اچوي.

ازادي له دوو لارو پېژندل کیږي؛

یو د تیورۍ او پیدایښت (هستي)پېژندنې له پلوه او بله د ټولنیز عمل د لیدلوري له پلوه؛

د خپلواکۍ د ترلاسه کولو انګېزه چې د خدایي ورکړې نوم هم ورته ورکولای شو په انساني طبیعت کې په ذاتي ډول نغښتې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لکه ددې عرب په قول:** هر هغه څه چې انسان له سترڅښتن تعال څخه وغوښتل نو خدايتعالى ورکړل اوله هغه پرته پرې بل هېڅ شې په جبري توګه تحميل نه شول او دغه ازادی پە انساني طبيعت کې د يو ستر امانت په توګه کېښودل شوه خو، هغه د خپلې وړتيا په مرسته کشف او وده ورکړه.

د معاصرې فلسفې پربنسټ خپلواکی د انسان ګوهر ده او پيدايښت يې پرې همدې خپلواکی ټينګ دی، دغه نظريه له اسلامي جهانبينی سره ورته او يو شان ده.

په قرانکريم کې ډېری ايتونه موجود دي چې د انسان ازادی ته هم د ارادې او هم د عمل له پلوه اشاره کوي، دغه راز قرانکريم د بشر د خپلواکی په بيلابيلو مرحلو او درجو باور لري، پدې مانا چې ټول انسانان چې د ځمکې پر سر ژوند کوي د مساوي ازادی لرل او ترې په مساوي توګه د ګټې اخيستلو توان نه لري. له همدې کبله هرانسان ته د هغه د توان سره سمه ازادي ورکړل شوې.

انسانان د خپلو ازاديو څخه د ګټې اخيستنې د توان ترمينځ دا توپير جوتوي چې قدرت لرونکي اشخاص د ازادی اړوند ځواکمنه او کمزوري اشخاص کمزورې انګېزه لري.

د همدې اختلاف پر بنسټ هر هغه څه چې په پيغمبرانو، اولياوو، اجباري ګڼل کېږي له عادي کسانو څخه يې تقاضا(هيله) نه کېږي.

**قران کريم پدې برخه کې فرمايي:** ستر څښتن تعالى د خپلو بنده ګانو د توان څخه لوړ بار د هغوی پر اوږو نه اچوي دغه اصل د افرادو په بيلابيلو دريځونو کې صدق کوي.

انسان د خپل فطري استعداد پر بنسټ پدې شرط چې پخپله رضايت ولري يوې دندې يا کار په ترسره کولو مجبور يږي.

ټول الهي اوامر پدې متکي دي، چې ګواکې انسان په ژوند کې د ټولو کارونو ترسره کولو توان لري، څرنګه چې ځيني افراد دغه امر پخپله خوښه ځای پر ځای کوي اوځينې نور يی نورو ته ورسپاري او دهغوی په واسطه يي ترسر کوي، د خپلواکی اطاعت کولو او نه کول دواړه په انسان پورې تړلي دي. له کومه ځايه چې هر انسان پخپله خوښه او علاقه او د نورو له لوري د يو عمل په ترسره کولو مجبور يږي، نو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې سره بيا هر فرد د خپلو اعمالو مسؤل دی او د همــدې مســئوليت لــه کبلــه د مکافاتو ياهم مجازاتو وړ ګرځي.
دا يو منل شوی ديني اصل دی، چې څښتن تعالی هېڅ وخت له وړاندې د برنامه ريزي شوي اعمالو ترسره کول په انسانانو نه تحميلوي.
انسان دی چې خپل د طبيعت چوکاټ جوړوي پــه همــدې بنســټ انســان د خپــل برخليک په ټاکلو کې مسقيماً لاس لري.
که چېرې انسانان پخپله خوښه خپل کارونه ترسره نه کړي او د نورو له خوا پرې پــه جبري توګه دا کار ترسره شي نو دلته بيا د جزا او مکافاتو مسئله په کړن پورې تړلې نه ده او ترسره کوونکی يې ګرم نه شمېرل کيږي، ځکه د جبري عمل ترسره کــول د ترسره کوونکي شخص ګناه او عيب نه ګنل کېږي، او ددې ډول عمل په ترسره کولــو سره به ياد شخص ته د ستر څښتن تعالی له لوري د عذاب او مجزا ورکولو (نعوذبالله) غير عادلانه وي.
له دې وړاندې د کلام ټولې مشاجرې او شخړې بېځايه او ناوړه دي. د جبريونو عقيده د اسلامي ښوونو په وړاندې واقع کېږي. خو پدې سره سره بيا هم جبــري عقيــده د واکمنو له مشورو سره برابره ده او په اسلامي ټولنو کې ورته پراخوالی ورکړل شــوی دی.
اقبال ددې لامل چې ولې د اسلامي واکمنو او مشرانو لــه خــوا د هغــوی اتبــاعو تــه خپلواکي نده ورکړل شوې په لاندې ډول بيانوي؛
اموي موقع غوښتونکو ماديات پرستو په يوه پلمه اړتيا درلوده څو د کربلا ناوړه عمل توجيه او د خلکو د احتمالي خوځښت په وړاندې د معاويه له بغاوت څخه ګټه پورتــه کړي.
يو شخص حسن بصري ته وويل چې امويانو مسلمانان ووژل او خپلــه دا کړنــه يــې د قضاوت لپاره څښتن تعالی ته وسپارله.
حسن بصري وويل: د څښتن تعالی دښــمنان درواغجــن دي پــدې ســره د اســلامي علماوو د نيوکو باوجود خپلواکه عقيده رامينځته شوه څو حکمراوايان يې په مرســته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې ګټې وساتي د اقبال په اند؛ د انسان په مجبوريت او بيــوزلۍ بانــدې د امويــانو جبري دندې د اسلام خلاف يوه روښانه او ښکاره ظلم او جفا ده.

البته ټول حکومتونه او حاکمان چې ملت يا وګړو ته ازادۍ نــه ورکــوي نــو د اســلام خلاف عمل کوي او د ګناه مرتکب ګرځي. د يو حکومت يا دولت له خوا خپلو اتباعو ته ازادي ورکول د هغوی د مسلماني اندازه څرګندوي يانې په هر کچه د ازادۍ ورکول د دوی د مسلمانۍ درجه ښايي.

هر انسان د خپلې ازادۍ په روښنايي کې ددې توان لري چې...

۱ ـــ پخپله خوښه هغه عملونه ترسره کړي چې د ځان لپاره يې ټاکلي وي؛

۲ ـ هغه عمل چې په ترسره کولو يې مجبور وي نو د ترسره کولو تــوان ورتــه ببښــل کيږي؛

۳ ـ حتا هغوی چې اصول نه پرځای کوي نو د نه ترسره کولو توان ورته ورکول کيږي، دغه راز هغوی خپلواک دي او د خپلې ارادې څښتنان وي چې يو عمل ترسره کړي او که نه؛

د خپلواکۍ عملي لوری د هر انسان په فردي او ټولنيزو دندو پورې تړلی وي،

هر دنده د وړاندوينې د شرط په توګه ازادۍ او اجرائيه قوې ته اړتيا لري او د قانون له مخې دغه امر د حق په نوم يادېږي.

د ازادۍ حق لرل او د خپلې خوښې کارونو ترسره کولو توان د طبيعي حقوقو په نــوم يادېږي.

د خپلې خوښې عمل ترسره کولو او ازادۍ ته طبيعي حقوق ويل کيږي؛

د اجتماعي کارونو ترسره کول او پکې شته ازادۍ ته مدني حقوق ويل کيږي؛

د دولت اړوند کارونو ترسره کولو ازادۍ ته سياسي حقوق ويل کيږي؛

په محکمه کې له خپلو حقوقو څخه دفاع کولو ازادۍ ته قانوني حقوق ويل کيږي؛

حق په خپلواکۍ ټينګ دی ځکه ازادي انسانانو ته د هغوی د دندو ترسره کولــو حــق ورکوي او له ازادۍ پرته حق هيڅ مانا نه لري، همدا ډول له حق پرته ازادۍ د يــو بــې ګټې عمل يا د يو داسې مقولې په څېر وي چې مينځ يې تش وي.

په هره ايډيالوژۍ کې ازادي له خپلې تيورۍ سره سه ځانګړې مانا او صبغه پيداکوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د بشر حقوق
# د غربي او اسلامي نظر او عمل پرتلنه

د بشر حقوقو اعلاميه د فرانسې د انقلاب د لاسته راوني په توګه ۱۷۸۹د اګست په ۲۶نېټه بشپړه شوه هغه نظرياتو چې دې اعلامئې ته د انقلاب د لاربنود قدرت ورکړ هغه د انسان طبيعي حقوق او ملي حاکميت وو، چې د طبيعي حقوقو په سر يزه کې تعريف شوي و او د يو نه ليږدېدونکي او سپېڅلي ځيز په توګه منل شوي وو، ځکه د هغو حقوقو په اړه داسې فکر کيده چې ګواکې د انسان له طبيعت سره (ګډ) يو ډول ده.

دغه حقوق په دويمه ماده کې د ملکيت او امنيت ازادۍ او استبداد په وړاندې د مقاومت حق په توګه پېژندل شوی وو، خپلواکي(ازادۍ) دوه بنې لرې چې يو فردي او بله يې مفکوروي ده.

د مطبوعاتو او بيان ازادۍ په پينځمه او شپږمه ماده کې ذکر او ساتل شوې دي.

( ۶ ـــ ۹ ) فقرې د قانون په وړاندې د برابرۍ اصل او (۵ ــــ ۱۳) فقرو يې د مالي او مدني برابروالي اصولو تامينول.

حق د يو شي مالکيت، د يو شي د پکاروړنې د ګټې ادعا يا د يو امتياز او يا هم د قدرت په مانا سره تعريف شوی دی.

له قانوني پلوه د حق مانا په يو شي باندې د انسان حقوقي ادعا ( دعوې) ته ويل کيږي، او يا هم د واکدارانو له لوري قانوني او ورکړل شوي صلاحيت ته ويل کيږي.

د قانوني حق موجوديت د جبري قانون په شتون دلالت کوي چې يو له بله پرته بې مانا او ژوندی نه پاتې کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدنې حقوق هغو حقوقو ته ويل کيږي چې د افرادو په تابيعت پورې تړلي وي او په يو مدني عمل سره د انفاذ په وړاندې واقع او يا هم تعديل مومي، دا په نسبي او مطلقــو حقوقو ويشل کيږي، مطلق حقوقو په انسان کې فطرتآ نغښتي وي.
نسبي مدنې حقوق هغو حقوقو ته ويل کيږي چې د خلکواو دولت ترمينځ موجود وي، لکه د حکومت له لوري ساتنه، د تابيعت حق چې د حکومت سره ده دخلکو په اړوند دی.
د مېرمنې او خاوند، کورنۍ او بچيانو، بادار او غلام ټول له حکومت سره متقابله اړيکه لري او د انسان لپاره فطري او ذاتي خاصيت لري.
د بودير له ويناوو سره سم حقوق پر دولت يا هم حکومت دواړو باندې بر دي.
جانسن پدې عقيده دی چې مدني حقوق د ټولنې هر فرد ته په ځانګړې ډول ورکړل شوي. پداسې حال کې چې سياسي حقوق د رايې په ترلاسه کولو يا په دولت يا اداره کې د ټاکنو په ترسره کولو سره ترلاسه کيږي.
د بودير په عقيده ځيني طبيعي حقوق لکه د خصوصي ژوند حقوق، که څه هم ظاهرا طبيعي دي خو ممکن ريښتني يا وقعي ونه اوسي.
د بشرحقوقو د اعلامئې په برخه کې بل ګام په کال ۱۹۴۸ د ډسمبر په مياشت کــې د ملل متحد له خوا واخيستل شو او د بشرحقوقو نړيواله عمومي اعلاميه چې د ازادۍ د فرمان Magna Carta په نوم هم ياديږي تصويب کړه او د شخصي ژوند، امنيــت، لــه زندان څخه د خلاصون ازادي، او په ښکاره توګه د يوې بېطرفه محکمې لــه لــورې د مذهب، وجدان، ټولنو، کار، زده کړې او پالنې ازادي او په علمي او هنري برخو د خلکو برخه اخيستنه ورسره وروسته ورزيات کړل شول.
غربي متمدنه نړۍ مجبوره وه چې اوږده لار ووهي څو د بشر حقوقو اعلامئې ته ځــان ورسوي، د ملل متحد اعلاميه د فرانسې د حقوقو له اعلامې وروســته د يــوې نيمــې پيړۍ په تيريدو باوجود د ټولې نړۍ په ځانګړې توګه د دريمې نړۍ هيوادونو د نژادي، رنګي، ايډيالوژيکي، ديني او مذهبي ارادو په رامينځته کولو کې ناتوانه شول.
د پرمختللو هيوادونو په انحصار کې د ازادۍ، بشرحقوقو او حاکميت تفسير په ښکاره توګه ثابت شويدی، پداسې حال کې چې غير انساني کړنې، تېري، اســتبداد، وران

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاري او د استعمارګرو لوري، د دريمې نړۍ هيوادونو په داخلي او بهرنيـــو چـــارو کـــې لاسوهنه ټول هغه څه دي چې دوی د ازادۍ او بشر حقوقو د ساتلو نوم ورکوي.
د ازادۍ د لارې مبارزين به د دهتشتګرو او انسان وژونکو په نوم وهل او ټکول کيدل هر هغه څه چې د ازادې ټولنې او بشرحقوقو د اتلانو په خوښه نه وو نو د دوی دا کړنه به د نړيوالو ډله ايزو اړيکو په وسايلو کې د بشرحقوقو څخه تخطي او سر غړونه ګڼل کېده برعکس هغه هيوادونه چې په ښکاره ډول د تبعيض سياست پر مخ وړي له هغو هيوادونو سره چې ځان په اصطلاح د بشر حقوقو مدافعين بولي د نـړدې اړيکـو پـه اساس په ښکاره توګه سترګې پټوي.
صهيونستانو يا نظامي ديکتاتورانو او د خلکو ضد نظامونه چې د خپلو غربي بـادارانو ګټې خوندي او تامينوي، ملکي خوځښتونه ټکوي او خپل دا عمل د مذهبي متعصبانو او د کلتور دښمنانو په وړاندې مبارزه بولي او توجيه کوي.
په عمومي توګه ازادۍ او د بشر حقوق د تمدن د پوليسو( ساتونکو) او تفوق ګرايانو د غوښتنو په رڼا کې تفسيريږي.
که چيرې په اسلامي اصولو کې د تبعيض او تنګ نظرو پرته يو رښتينی توپير وشي او په رينښتنې سترګه ورته وکتل شي، نو دا ادعا به په سمه توګه ثابته شي چې د اسلام سپيڅلي دين څو پيړۍ وړاندې د بشرحقوقو اړوند يو نړيوال پيغام وړانـدې کړيـدی چې يکې ټولې کورنی نيمګړتياووې او نا برابروالی په تيوري او عملي ډول حل شـوې دي.
اسلام په يو شمير عقايدو ولاړ دی او دا عقايد د سي پي پير چـې د اصـالت فلسـفې بنسټګردی له عقايدو او نظرونو سره جوت توپير لري. که څه هم دا يې د پيروانو لـه لوري عملي کيږي پداسې حال کې چې هغه نظرونه چې عملي بڼه ونلري پخپل حـال پاتې کيږي.
له همدې ځايه ده چې، هر هغه څه چې اسلام تبليغ کړل نو ټول د رښتنيو او اصيلوو مسلمانانو له لوري عملي او پلي شول. له کومه ځايـه چـې يکـې د تيـورۍ او عمـل مطابقت په بشپړه توګه حل شوی که چيرې په کـوم خـای کـې ددې دواړو تـرمينځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

توپیر او نابرابرۍ ته وکتل شي کولای شو ووایو چې پداسې حالاتو کې د اسلام اساسي شرط یانې په عقیده باندې عمل نه دی شوی.
اسلام له لغوي پلوه خپل رب ته د تسلیمیدو په مانا دی او دا تسلیمیدل پخپلو انساني غوښتنو برلاسی، د یو کسب او کمال د ترلاسه کولو لپاره مبارزه کول او د هغوی لپاره نه ختمیدونکې مبارزې رامینځته کول دي.
همغږي هغه وخت د انسان په ژوند کې تضمین او تامیندای شي چې یو د بل ترڅنګ ولاړ او هر یو خپل مسئولیت وپیژني.
دې حقیقت ته په پام سره چې ټولو ته د بشرحقوق ورکړل شوي نو خلکو متوازن او عادلانه جزا او مکافات ورکړل شي، اسلام هغه وخت چې ننی پرمختللی غرب په تیارو او ظلمت کې شپې او ورځې تېرولې او د ازادۍ او بشرحقوق له معقولو څخه په بشپړه توګه خبر نه وو د لومړي ځل لپاره د دې ټولنې بنسټ کیښود.
که څه هم د یونان ستر تمدن له اسلام څخه وړاندې په بنیادي دولتونو کې د ډیموکراسۍ یو ابتدایي شکل معرفي کړی وو، وروسته رومیانو هم د لنډې مودې لپاره یو شی چې د ډیموکراسۍ په شکل ښکاریده بنسټ کیښود، خو د یونان په ډیموکراسیو کې یوازې نارینه ازاد او ښځو په کې د رایې ورکولو حق نه درلود، او غلامان له هیڅ ډول حقوقو څخه برخمن نه وو د روم پراخه امپراطورۍ په واقیعت کې د یوه غلام دولت خاوند وو، چې په هغه کې یوازې اراده او حاکمه طبقه له ځینو حقوقو څخه برخمن ول.
د بیزانتین امپراطورۍ ( د ختیځ روم) چې د روم امپراطورۍ ځای یې ونیو هیڅکله یې هم د حضرت عیسی ع تعلیمات او ښوونې عملي نه کړې.
د فکري ازادۍ په ورکولو او د عیسویت اصولو په اړه یې د پوښتلو مخنیوی وکړ، پاپانو ( مذهبي مشران) هم په همدې اندازه د ازادو پوښتنو د زغملو په وړاندې مبارزه ونه کړه.
په شاهي استبدادي او روحاني حکومتونو کې عیسویت د دیني او مذهبي اقلیتونو په مقابل کې له تبعیض څخه کار اخیستل کیده یا به هم اعدام کیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ټولنيز جوړښت** ـــــ د پارس امپراطورۍ سياست هم په عين انــدازه اســتبدادي وه، ځنګه چې پکې يوازې روحانيون او اشراف له ځينو حقوقو څخه برخمن وو پــه هغــې ټولنه کې به عادي وګړو اصلآ د يو ازاد فکر کولو حق نه درلود او لاسرسی يې ورتــه ناممکن وو او له ټول حقوقو څخه بې برخې وو.

د هندوستان ټولنه او دولت هم پر همدې طبقې ټنيګ دی او ټولنه يې د ټيټو طبقو او مطلق اکثريت څخه جوړه شوېده خو هېڅکله هم له دوی سره د انساني موجــود پــه څير چلند نه دی شوی.

دوی په همدې بدو حالاتو کې ژوند کاوو چې د اسلام سپيحلي دين ظهــور وکــړ او د ټولو هوساينه او ارامتيا يې د نژادي، فکري، رنګي، قومي، عقيدوي تبليغــاتو پرتــه او ورته د مساوي حقوقو ورکړه تضمين کړه.

د راشدين خلفاوو تر ځلانده دورې وروسته اسلامي حکمروايانو د اسلام د پيغمبر او اصحابوو له لارې څخه ووتل خو ددې باوجود يې تيرو يا معاصرو هيوادونو خپلو خلکو ته ډېره ازادي او حقوق ورکول نه يوازې مسلمانان بلکې د اسلامي دولت په خاوره کې غير مسلمان هم له پوره ازادۍ څخه برخمن وو.

سيد امير علي پخپل اثر ( د اسلام روح) کې وايي چې اسلامي دولتونو هيڅکله هم د نورو عقايدو کې لاسوهنه نه ده کړې. پداسې حال کې چې اورتوډکسانو به يهودان او نسطوريان په وحشيانه ډول اعدامول او وژل نو پداسې حال کې اسلام دوی تــه پنــاه ورکړه او د هغوی له ظلمونو څخه يې وساتل دغه راز اروپايي عيسويانو به جــادوګرې ښځې او فاسدالعقيده وګړي په اور سوځول يهودانو او سيکولرانو(بې دين) به له عــام وژنو سره له مينځه تلل.

اسلامي مشرانو به خپل غير مسلمان غړي په پراخې سينې سره زغمل هغوی ته بــه يې پخپل دولت او امپراطورۍ کې مساوي حقوق ورکول، د اسلامي دولت هره اداره به د مسلمانو اتباعو په څېر
د ټولو پرمخ پرانستې وه.

پخپله د اسلام ستر ښوونکي ( اموزګار) له يوې يهودي يــا عيســوي ښــځې ســره د مسلمان سړي سره واده حلال او قانوني اعلان کړی وو، هغــه حقــوق چــې د اســلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپيڅلي دين غير مسلمان اتباعو، ښځو او غلامانو ته ښېلي وو په بشپړه توګـه بــې ساري او انقلابي وو.

## د ازادۍ او حقوقو قراني مفهوم:

د حقوقو او ازادۍ ترمينځ نه بېلېدونکې او متقابله اړيکه موجوده ده، پدې مانا چې له يوې خوا له ازادۍ پرته حق مانا نلري او نه ترلاسه کيږي، له بلې خوا حقوق د انســان ازادۍ تر يوې کچې تضمينوي، دغه راز حقوق او دندې هم يو له بـل سـره متقــابلې اړيکې لري، هر حق چې انسان ته ورکول کيږي نو ورسره انسان د يوې دندې ترسره کولو ته مجبوروي او هره دنده چې د انسان له لوري ترسره کيږي نو د هغــه لپــاره د ځينو حقوقو څخه د برخمنتيا لپاره زمينه برابروي.

دنده پخپله د نورو حقوقو ته د درناوي په مانا ده، او دا درناوی پخپــل وار ســره هــر انسان ته د حقوقو ترلاسه کولو او عملي کولو لپاره په ازاده توګه زمينه برابروي.

د انسان ازادۍ پدې دلالت کوي چې ګواکې ټول انسانان يو ډول ازادۍ او حقوق لري، له دې وينا څخه دا پايله او منطق په لاس راځــي، چــې د هــر انســان ازادۍ د نــورو انسانانو په ازادۍ سره تړل کيږي، خو دا قيد له فرد څخه خپله ازادي نه اخلي بلکې، پر ځای يې د ټولو انسانانو د ازادۍ ساتنه او ملاتړ هم کوي.

که چيرې يو فرد ته اجازه ورکړل شي، چې تردې کچې له خپلــې ازادۍ ګټــه پورتــه کړي چې د نورو د ازاديو د کموالي او غصب سبب شي، نو پدې صورت کې بــه ســره بيره پردې چې د هيچا ازادۍ پاتې نشي بلکې د ازادۍ مفهوم او مانا به هم ورسره لــه مينځه لاړه شي.

په همدې ترتيب ازادۍ پخپل ذات کې حق او حق يوه دنده ده، ځينې وخت دنده پــر حق وړانديوالی لري.

**بيلګه:** يو انسان خدای پېژني او د هغه اطاعت کوي، د غه دوه عملونه د اســلام ســره سم د هر انسان لومړنۍ دندې دي، البته ددې دندو لپاره وروسته حقــوقي تخصــيص ورکول کيږي.

د څښتن تعالی په وړاندې په سمه توګه د دندې اجرا کول هغوی ته لاهــم زيــاتې او ارزښتناکې ازادۍ ورپه برخه کوي. دا ډول ازادۍ انسان د څښتن تعالی په نافرمــانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې هم پیداکوي خو دا نافرمانۍ به انسان د نړۍ د غلامانو په یــوه بــده او ویرونکــې څېره بدل کړي.
برعکس د خدای تعالی د اوامرو اطاعت انسان له ډېرو ناړوه اړیکو څخه ژغوري دغــه اطاعت انسان ته نور حقوق او ازادۍ هم ورکوي، معمولآ حقوق پر دنــدو وړانــدېوالی لري او وړاندې شمیرل کیږي.
اصلآ ازادۍ، حق او دنده د یو مثلث درې ضلعې دي، او پدې مثلث کې قاعده د ازادۍ په توګه ګڼل کیږي، ولې که چیرې د مثلث هره ضلع له مینځه لاړه شي نو مثلث هــم ورسره له مینځه ځي.
اسلام پورتنیو درې واړو اصلونو ته یو ډول حقوق ورکړي دي، او درې واړه یوځای د یو مسلمان  اخلاقي، ټولنیز او سیاسي چلند انځوروي. دیني چلند د انســان د بیلابیلــو لورو او کړنو د ټولګې یوه برخه ده.
د څښتن تعالی پېژندنه او اطاعت د انسان له اخلاقي، سیاسي او ټولنیز چلند له ډلې څخه شمیرل کیږي.
په حقیقت کې د چلند دغه بیلګې چې په بیلابیلو نومونو یادېږي یو له بل سره تړلــي دي او یو له بل پرته د تشخیص وړ نه دي، اسلام د انساني چلند ټــول حــالات د یــو موجود په توګه یو له بل سره تړلي بولي.
اسلامي جهان بینۍ انساني چلند ته؛ د یووالي اوهمبستګۍ له پلــوه ګــوري، د ټولــو انساني فعالیتونو موخه په ټولو سحطو(پړاونو) کې د عدالت رامینځته کول او تامینول دي.
له  کومه ځایه چې په قران کریم کې په ټوله ایزه توګــه د ازادۍ تضــمین شــوی لــه همدې پلوه د مومن او غیر مومن ترمینځ توپیر نشته په قرانکریم کې چې د کوم عمل ترسره کولو امر شوی خیر او کوم چې منع شوی د شر راوړنکی دی البته خیر او شر د ټولو لپاره یو ډول دي، خیر او شر د حلالو او حرامو بنسټ یا اساس ګڼل کیږي.
څوک چې د څښتن تعالی اوامر چې د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد له خوا ورتــه رسول شوي دي پرځای کړي، لکه: پیغمبر هغوی ته د خیر کار کولو امر او د شر له کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې منع کوي. له اوړو څخه يې درونډ بار لېرې او د هغه چاچې لاس بنـد وي( بيـوزلي يې لاس نيولی وي) پرانيزي او له دې ډول حالت څخه يې ژغوري.
د خير او شر دغه اساسي اصل د شيانو او اعمالو طبيعت په سمه توګه د پلي کيدو وړ دی له همدې پلوه ده چې دا دين د فطرتي دين په نوم هم يادېږي، څرنګه يـې چـې مخکې يادونه وشوه هيڅ طبيعت په ځانګړې توګه پر انسان نه دی تحميل شوی خو، هغه پداسې ډول پيداشوی چې د هرڅه خوړونکی (حلال شيان، غوښــه او ترکــاري) دی پدې سره مونږ ددې ايت( لااکراه فی الدين) په مانا ښه پوهيدای شو.
څښتن تعالی هغه څه چې انسان ورڅخه په ازادنه او اسلامي توګه ګټه پورته کوي او ورڅخه خوند اخلي نه دي منع کړي، او هغه کارونه چې د انسان د خواشينۍ اوزيـان لامل ګرځي( بغاوت، بې عدالتی، نابرابری، ناوړه کارونه او داسې نور) منع کړي دي.
د عدالت په راليږلو کې څښتن تعالی د انسانانو په ټولو کارونو کې د سختۍ نه بلکې د اسانۍ غوښتونکی دی.
د قرانکريم ټول اياتونه چې عدالت ته پکې اشاره شوې انسانانو ته يې پرته لـه کـوم تبعيضه د پلې کيدو امر شوی او د پلې کيدو وړ دي، لکه خدای تعالی خپل پيغمبر ته داسې فرمايلي دي:
ژباړه: ما ته نه يې ليږلی خو ټولو عالمانو ته د يو لارښود او رحمت په توګه؛

## په اسلام کې د بشر حقوقو ځانګې:

د اسلامي قوانينو او مقرراتو په اساس که څوک په يـوې مـور چـې حاملـه وي او د ماشوم پيداکيدو وخت يې نږدې وي فشار راولي او د فشار په پايله کې يې ماشوم مړ شي نو بايد په مقابل کې يې بايد خونبها( د وينې په مقابل کې پيسې ورکول) ورکړي، که ماشوم نارينه وي نو پيسې بايد د ماشوم کورنۍ ته ورکړل شي، که چېرې له مـور پلار څخه د يوه د جنين د خرابيدو سبب وګرځي نو له مقابله لوري څخه يې خونبها يا پيسې اخيستل کيږي.
که چېرې نطفه د مور په رحم کې وي او پلار يې مړ شي، او پلار بل ماشوم هم ولـري يانې د نطفې ورور يا خور موجود وي نو هغوی د پلار د ميراث مستحق ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د انسان د حقوقو د دفاع لپاره اسلامي فتوې شتون لري او داسې ادعا کوي:**
**اې! خويندو او ورونړو منتظر اوسئ څو ماشوم پيداشي او برخه يې د نارينه او ښـځينه په اساس وټاکل شي، يا له دې پلوه چې يو ده او که دوه يا ددې لپاره چې حقوقي بڼه په ښه ډول په پام کې ونيول شي او له حق څخه په سمه توګه دفاع وشي، نو هغـوی بايد دا نامالومه نطفه د دوه هلکانو په توګه فرض کړي.**
**په همدې سره بايد د دوه زامنو برخه په امانتدارۍ سره وساتي او پاتې برخـه پخپـل مينځ کې وويشي، دغه عمل د دوه راتلونکو ماشومانو راتلونکی تضمينوي.**
**ځکه کله چې پيداشي نو له هغه برخې څخه يې د پوښاک، خوراک او څښاک کې ګټه پورته  کوي.**
**که چيرې د دوه ماشومانو پرځای يو پيداشي نو د بل برخه د ټولو ترمينځ په مســاوي توګه ويشل کيږي، پدې صورت کې د بشر حقوق په فوق العاده وخت کې تــامينيږي، چې انسان تراوسه کوچنی، کمزوری، او له  حقوقو څخه د دفاع چمتــوالی نلــري بيــا چېکله ماشوم پيداکيږي نو د وخت په تيريدو او د ژوند له حالاتو سره ســم  حقــوق زياتوالی مومي که څوک پدې وخت کې ماشوم ووژني که، يو ورځيني هــم وي، نــو د کامل انسان په څير له ټولو حقوقو څخه برخمن دی او د بشــپړ (خونبهــا) مســتحق ګرځي.**
**ترديد چې که د ماشوم قاتل د هيواد يو شتمن او يا هم پاچا وي او کورنۍ يې د هيواد کمزورې او بيوزله هم وي، پدې صورت کې که قتل په قصدي ډول ترسره شوی وي نو کورنۍ يې درې حقونه لري...**
**د قصاص غوښتو اقدامات وکړي او هماغه کمزوری او بيوزله پلار ددې حق لري چــې شتمن اومعتبر قاتل په قتل ورسوي، پلار دا حق هم لري چې د قاتل له وژلو څخه تير او په مقابل کې يې پيسې واخلي.**
**په لومړۍ مرحله يو ماشوم د بلوغ تر وخته پورې کورنۍ که بيوزله او که شتمنه د هغه خوراک، پوښاک او نورو اړتياو د پوره کولو مسوليت په غاړه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دويمه مرحله کې بايد نور مسلمانان او بيت المال د هغه تکافل يا روزنه پــه غــاړه واخلي، که څه هم نور ښوونځي د يو متوفي بچيانو ته دا حق ورکــوي ترڅــو د خپلــو اړتياوو پوره کولو لپاره د پلار جايداد وپلوري.

خو اسلام ورته دا اجازه نه ورکوي، په اسلام کې د لازم ګڼل کيږي چــې د هغــه بــې روحه جسد ومينځي او په يوه پاکه  تکه کې تاو او په بشپړ درناوي سره يې خاورو ته وسپاري.

د اسلامي قوانينو پر بنسټ انسانان ترمرګ وروسته هم حق لري چې د خپل ملکيت په اړه يې وصيت عملي شي، هيڅوک حق نلري چې د متوفي وصيت نامه کې بــدلون راولي، زياتوالی او کموالی پکې راولي، ځکه ستر څښتن تعالی د وصيت تغيروونکــی انسان دا ډول تهديدوي؛

هغه څوک چې د وفات شوي شخص وصيت ته بدلون ورکوي نو بايد له محکمــې او د دعوې له ثبوت وروسته پخپلې سزا ورسول شي.

انسان پخپل ژوند کې په کورنی، چاپيريال او ټولنې ځانګړي حقونه لري، اسلامي فقې په پوره ځيرتيا سره دا حقوق څيړلي.

د مستحق شخص او ياهم څوک چې ددې حق مسئول وي داسې حکم کوي: پــه هــر وخت کې اسلام د عقل او استدلال په پام کې نيولوسره حق خپل مستحق ته سپارلی دی.

کله چې انسان نرۍ ته سترګې غړوي او لومړنۍ معنوي اړتيا يــې د مناســبو خــواړو، لباس او د ښکلي نوم ټاکل دي، دا نوم بايد پداسې ډول وي چې هرکله چــې د ده پــه وړاندې مخاطب واقع شي نو دی بايد ورسره د عزت او غــرور احســاس وکــړي نــه د حقارت او شرم.

له همدې ځايه ده چې د اسلام سپيڅلي دين کورنۍ ته د خپــل ماشــوم لپــاره د يــو ښکلي نوم ټاکلو امر کوي او ددې کار لپاره يې مور پلار مامور کړي دي.

د ماشوم بل حق که ځوی وي او يا لور د هغوی د پالنې او زده کړې وســايلو برابــرول دي. څو په سمه توګه زده کړه ترلاسه کړي، تر هغې کچې چې ماشوم وکولای شــي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې قرانکریم ولولي او په مانا يې هم ورسره پوه شي. لوستي(باسواده) مــور او پــلار مجبور دي چې خپلو ماشومانو دا حقوق ټول په سمه توګه ادا کړي.
که چېرې مسلمانو کورنیو د قرانکریم دا امر په سمه توګه پرځای کړای وی نــونن بــه هیڅ یو مسلمان نالوستی (بیسواده) نه وه پاتې شوی او ټول به د زده کړې خاونــدان شوي وو.
ځکه هر ماشوم پلار لري، او هر پلار مکلف دی چې په سمه توګه د خپلــو ماشــومان روزنه او پالنه وکړي، د یتیمانو د زده کړې مسولیت د نورو په غاړه اچــول شــویدی، پدې سره د مسلمانانو د غفلت ګناه نباید په غیرعادلانه او ناځوانه توګــه د اســلام او فقې په غاړه واچول شي.
څرګند حق چې بچیان يې په پلار لري هغه د بچیانو د واده مسئله ده چې بلوغیت ته د رسیدو سره سم يې باید ورته چمتوالی ونیسي، چې دا خدايي امر په هیڅ ډول لــه نورو انسانانو پټ ندی
البته ددې حق پرځای کول د انسانانو د ژوند له اقتصاد او نورو حالتونو سره مستقیماً تړلی دی.
په همدې ډول ماشوم په کورنۍ داحق هم لري، چې له ده څخه په سمه توګه ســاتنه وکړي او د روزنې برخې ته يې خورا زیاته پاملرنه وکړي، خو د اسلام ســپیڅلي دیــن پدې برخه کې د میندو د فطري او طبیعي مینې په پام کې نیولو سره دومره ټینګار نه دی کړی.
البته دا پر بچیانو ده چې پر مور د خپل حق په مقابل کــې پخپــل وار ســره د هغــې درناوی وکړي له کومه ځایه چې ددې درناوي نشتون د بچیانو له لوري شــتون لــري اسلام د موضوع پدې بنې ډېر ټینګار کړیدی.
پر هیواد او ټولنه د انسان حق دا دی چې په لومړي ګام کې د هغــه د مــال، ژونــد او عزت ساتنه وکړي، اسلام پدې ډول مواردو کې د پکاروړنې ځینې قواعد او لاروښونې په لاندې ډول وړاندې کړي...
اسلام د ځینو مواردو پرته لکه له جسمې او انساني کرامت څخه باندې ربړونــه هــیڅ وخت خپل قانوني حد کې نه دی ګڼلی، پدې مانا که یو څوک بل کس ووژنــي تــوپیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نکوي، چې مقتول څومره کوچنی او کمزوری دی د مقتول اولياء دا حق لري چې په لومړي ګام کې له حکومت څخه د قصاص غوښتنه وکړي او د ثبوت په صورت قاتل د مقتول په غچ کې په قتل ورسوي.**

**اسلام د خپلو دښمنانو د دا ادعا برعکس قصاص د يوې ټولنې د بقــا لپــاره مهمــې او ضروري وسيلې په توګه ګڼلی دی، او په هغه کې هيڅ ډول شخصي انګيزې شتون نه دي نغښتې.**

**پدې مانا که قاتل د قتل په جرم وژل کيږي نو په راتلونکي کې به هيڅوک ددې جرئت او کوښښ ونکړي چې په قصدي ډول بل شخص ووژني.**

**که چيرې يو څوک د بل چا مال پټوي(غلا کوي) نو د غلا په اندازه متناســبآ د د غلــه څلور ګوتې يا لاس پرې کيږي.**

**که چيرې په لويه لار يوه کوچنۍ غلا هم وشي نو د غله دا عمل(کړنــه) بغــاوت ګڼــل کيږي، او شديده جزا بايد ورته ورکړل شي.**

**که څوک په غير اسلامي توګه د جماع په عمل لاس پورې کړي نو اســلامي قوانينــو ورته له درو څخه پيل بيا تر سنګسارولو پورې حد ټاکلی دی، پدې موده کې قــوانين پداسې شديد ډول پلي کيږي چې د ناموس حيثيت يي په سمه توګه وساتل شــي او څوک بيا ددې جرئت ونکړي چې د يو مسلمان په ناموس تيری وکړي.**

**او يا زنا کارې ښځې مجبوره نشي چې حرامي بچيان وزيږوي، بايد له زيږيدو وروسته يې ووژني او د قتل په عمل لاس پورې او د ګناه مرتکبې شي او يا حراميان بچيان په يوه سپيڅلې ټولنه کې د خپلې ددې بې عزتۍ او بې حيثتۍ په بــدل کــې پــه لويــو ورانکارو اوجنايت کارانو بدل کړي.**

**دغه راز ددې امکانات شته چې له هلکانو سره چې وغواړي که ونــه غــواړي لواطــت وشي، نو وروسته په دوی کې د سترړيا اوغم احساس وده کوي، او بالاخره همدا هلکان په ټولنه کې په سترو جنايت کارانو، ظالمانو او انسان وژونکو افرادو باندې بدلېږي.**

**ددې ټولنيزو خطرناکو عواقبو د مخنيوي لپاره د اسلام سپيڅلي دين د زناکارو ښــځو او هغه نارينه چې لواطت کوي سخته او شديده سزا ټاکلې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو غربي ټولنې چې په هغو لواطت او زنا د ورځيني ژوند يو عادي عمل ګڼل کيــږي، ددې ډول سزاګانو مخالف او د بشر حقوقو خلاف يې بولي او په بد نوم يې يادوي. خو له دې ډول عملونو څخه د ايډز ناروغۍ پيدايښت د اسلام سترې فلسفې د اســلامې عقايدو دښمنانو لپاره هم ثابته کړې ده. اسلام د انسان ژوند، ملکيت او حيثيــت تــه خورا درناوی لري او ساتنه يې چې په هره بيه وي کوي، تيرى که د يو زمــري، ليــوه، پړانګ او ياهم انسان له خوا هم وي يو ناوړه عمل دی او په کلکه بايد مخنيوی وشي.
هر تيری کوونکی چې له هره خوا وي بايد له خپل جرم سره متناسبه سزا ووينې، ځو تيری او تيری کوونکی دواړه له مينځه يوړل شي. د نورو دينونــو پيــروان او فکــري ښوونځي چې تراوسه د اسلامي اقداماتو چې سرچينه يې الهي اوامر دي، بې خبره او عاجز پاتې دي د هغو ترسره کولو په وړاندې مخالفت څرګندوي او په وړانــدې يــې د خپلو نيوکو غږ پورته کوي.
**اسلام وايي:** که د انساني حقوقو لس تيري کوونکو ته جزا ورکړل شي، نو په زرګوونو خلک به د غلا، جنايت او په ځان، مال او ناموس له تيري څخه په امن کې شي. په دې صورت کې به خلک له ويرې پرته خپل کارونه په سمه توګه ترسره کړي او هغه څوک چې د نورو په حقوقو د تيري او غلا اراده لري کيدای شي دا کسان د خپل عمل د سزا د ويرې له کبله له خپلې ارادې تير او دا کار ترسره نه کړي او ټولو هغو کارونو تــه بــه مخه کړي چې د ټولنې لپاره ګټور او د افرادو په خوښه وي.
ايا دا واقعيت نه دی چې د جنايت کارانو او تيري کوونکو افــرادو شــميره د ټــولنې د نيکو او سمو افرادو په پرتله ټيټه ده؟
ايا دا واقعيت نه دی چې د اسلامي قوانينو په عملي کولــو ســره د تيــري کوونکــو او جنايت کارانو د تيري او جنايت مخنيوی سبب ګرځي؟
ايا د اسلامي جنايي قوانينو په پلي کولو سره به د يوې ټــولنې وګــړي داســې فکــر ونکړي چې اسلام د مظلومانو او نيکو خلکو ملاتړی دی نه د ظالمانو او تيری کوونکو؟
ايا دابه ضروري وي هغه اشخاص چې د ټولنې په وړاندې مخالفت څرګندوي او ورسره جنګيږي او د نورو د ازادۍ خنډ ګرځي، د هغوی د پرمختګ مخنيوی کــوي ورتــه د انسان نوم ورکړو او دوی ته دې د بشر حقوق ورکړل شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ایا دا لازمه ده چې جنایت کاران، قاتلان، غله، تیری کوونکي په لنډه توګه د انسانیت دښمنان له ټولنې څخه هیله ولري چې حقوق ورته ورکړل شي.**
**ایا د جنایت کارانو او تیري کوونکو په وړاندې سل سلنه د اسلامي قوانینو پلي کولو مخالفانو د خلکو ژوند، ملکیت او ناموس په ته په درناوي قایل دي؟**
**ایا هغوی د جنایت د مخنیوي په موخه د اسلامي احکامو په پرتله له ځان سره غوره لارې چارې لرئ؟**
**څنګه چې د هغوی د حل قانوني لارې د دیارلسو پیړیو لپاره د ازمایښت لپاره وړاندې شوي خو تراوسه لانه دې بریالي شوي چې غلا او جنایت له مینځه یوسي، خو هغوی برعکس په هر وخت کې د جنایت په کمي او کیفي کې مرسته کړې ده.**
**په پوره باور سره هغه څوک چې غواړي د امن او سولې په فضا کې ژوند وکړي، او د نورو د تیري لاندې رانشي او د همدې غوښتنو لپاره اسلامي قوانین یوازینۍ وسیله بولي او له اسلام څخه به د داسې قوانینو په وړاندې کولو کې راضي او خوښ اوسي.**
**بله موضوع چې دلته د بحث وړ ګڼل کیږي د عقیدې ازادۍ ده پدې مورد کې هم اسلامي اصول په عقل او منطقي استدلال ټینګ دي پدې مانا چې انسانان له ازادۍ څخه ناوړه ګټه پورته نه کړي نو اسلام هغوی ازاد ګڼلي دي، د عقیدې په څرګندولو کې د ازادۍ څلور احتماله موجود دي.**
**۱ ــ انسان ازاد دی چې یو عقید مطالعه ، درک او انتخاب کړي؛**
**۲ ــ انسان د هر ډول عقیدې په لرلو کې ازاد دی؛**
**۳ ــ انسان ازاد دی چې خپله عقیده وساتي او دوام ورته ورکړي؛**
**۴ ــ انسان ازاد ده چې خپله څرګنده او نورو ته وښايي؛**
**د لومړۍ مادې( انسان ازاد دی چې یوه عقیده مطالعه، درک او انتخاب کړي) په اړه باید ووایو چې ددې قاعدې منځپانګه له استدلال څخه مستقله ده او په اسلامي سرچینو کې د هغه مخالف په نوم څه موجود نه دي، قرانکریم پدې برخه کې ځینې لارښوونې کړي او ستر څښتن تعالی وایي:**
**زما هغه عبادت کوونکي ته بشارت ورکړئ، چې ټولو بیانیو ته غوږ ږدي او له هغوی څخه یې غوره ټاکي او د عملي کولو لپاره یې هڅې او کوښښونه پیلوي، پدې سره د**

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ مرحلې د عقیدې ترلاسه کولو سره انسان له ځان غولونې څخه لاس اخلـي او غواړي ځان پورې تړلې اړوندې چارې وپېژني.
دا هیله لري او غواړي چې پخپل ژوند کې نیکمرغي او سعادت ترلاسه کړي د خپلـو ګټو د ساتلو په اړه فکر او د هغوی د لا زیاتوالي لپاره کوښښ کوي.
اسلام سپیڅلی دین څوک نه مجبوروي چې په ګوډ او ړوند ډول کـوم عمـل ترسـره کړي، له خپلو تړلو ژمنو تیر او یوازې د اسلامي سرچینو او اسنادو پیروي وکړي. بلکې اسلام ورته په ښکاره توګه ددې اجازه ورکوي چې هرې بیانیې ته غوږ ونیسي او هـر موضوع یې چې د خوښې وړ وي ورته رسیده ګي وکړي ( ځان ورته ورسوي) هغه باید د اسلامي موضوعاتو له اوریدو وروسته خپل عقل او استدلال پکار واچوي وروسته هر هغه څه یې چې عقل او ذکاوت غوره کړل وټاکي او پکاروړنه یې پیل کړي.
وروسته انسان له دې پړاو څخه تیریږي او پخپله د عقیدې ازادۍ مني.
اسلام د حق او باطل، سم او ناسمو کړنو د مکافاتو او مجازاتو پـه اړه خپـل نظریـات وړاندې کړي دي، که چیرې پخپله عقیده د کومې اشتباه مرتکب شوی وي نو خپلـه عقیده دې بیاځلي نوې او اسلام دې قبول کړي.
قرانکریم د کلکو اسلامي عقایدو د بیخبینا په توګه وایي:
۱ـ دا قرانکریم ستاسو لپاره د یوې یادونې په توګه رالېږل شوی ترڅو د هـر چـاچې خوښه وي له لارې یې څښتن تعالی ته نږدې شي.( 19:73 )
۲ ـ قرانکریم د ستر څښتن تعالی له لویو نښو او ایاتونو څخه شمیرل کیـږي او ددې لپاره نازل شوی چې خلک وویروي، هر یو له تاسو چې غواړي نیکمرغه ژونـد ولـري باید د قرانکریم احکام عملي او هرڅوک چې غواړي برعکس بدمرغه ژوند ولـري نـو ددې احکامو نافرماني دې وکړي.
۳ ـ قرانکریم د هغو وګړو لپاره لارښود او زده کړه ده، چې غواړي دا مستقیمه لار په مخکې ونیسي. ( 81 ! 27 _28 )
وګورئ چې ستر څښتن تعالی عالمان او ادمیان چې د قرانکریم اوامر یې په پام کـې نیولي وي، د ژغورنې او لارښوونې لپاره یې د یوې وسـیلې پـه توګـه شـمېري خـو هیڅوک نه مجبوروي چې هرومروپدې ایمان راوړي او اوامر یـې پرځـای کـړي. پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرځای کولو سره يې د خلکو اراده برسيره کوي او د يو خپلواک فاعل پــه ځيــر يــې ازادوي چې هر څه يې زړه غواړي وکړي.
خو ددې يادونه ورته کيږي چې د خدايي عدالت پر بنسټ به د خپلو اعمــالو ځــواب وايئ.
نبوي احاديث هم د اسلام د ستر پيغمبر د اقوالو په پيروي کــې د انســانانو ژغورنــه تغښتې بولي، په هغوی کې هم د انسانانو په وړاندې له زور او جديت څخه کار نــه دی اخيستل شوی او انسانان يې ازاد پر ېښي دي.
**دويم احتمال:** انسان ازاد دی چې هر ډول عقيده ولري، پدې مانا هر کلــه کــه کــوم انسان د ځان لپاره عقيده ټاکي نو هيڅوک حق نلري چې د هغه عقيده تقبيح او پکې مداخله وکړي، او هغه عقيده چې د انسان په خوښه نه وي پرې په زوره تحميل شي.
د غير عادلانه افکارو تحميل بې ګټې پايلې له ځانه سره لري، پدې برخه کې هم ليدل کيږي چې اسلام د عقل او طبيعت د اصولو په چوکاټ کې پريکړه کوي او ټولنې ته يې وړاندې کوي.
د اسلام ستر پيغمبر تل د اسلام له دښمنانو سره ازاد بحــث کــړی دی او د قــوي او منطقي دلايلو په پايله کې يې هغوی ته قناعت ورکړې او هغوی هــم ورســره ايمــان راوړی او مسلمانان شويدي.
بله موضوع چې ددې بحث ترڅنګ لازمه ګڼل کيږي داده چې که څوک په ازادانــه او خپله خوښه دين وټاکي او ځان د هغوی د اصولو او مقرراتو په محدوده کې راولي نــو نبايد مجبور او مقيد وګڼل شي،
ځينې وخت يو هوښيار شخص پخپله اراده سطحي( سر سريزه) ازادي يــوې خواتــه کوي او ځان او ټولنې لپاره ګټورو قيدونو او محدوديتونو ته مخه کوي، دا داسې کيږي لکه چې يو شخص په يوه پراخ او ارته دښته کې له اوسيدو لاس واخلي او ځان د يــو بند ښار د څلور ديوالونو په مينځ کې ارامه احساس کړي، البته دغه امر هغه وخــت د منلو وړ دی چې هغه د ښاري ژوند زندان ته په يوه پراخه او هوســا دښــته غــوروالی ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا ډول کله چې څوک واده وکړي او نوی ژوند پيل کړي نو زيات ورسره زيات قيدونو ته هم غاړه ږدي او مني يې خو له هغه ځايه چې دا قيدونه يې پخپله خوښه منلي وي، نو هيڅوک دا حق نلري چې ياد شخص منع کړي او کوښښ وکړي چې هغه بېرته خپلې پخوانۍ ازادۍ ته راوګرځوي. پدې طريقه امکان لري چې پخپله اراده او خوښه بې ديني پريږدي او د ځان لپاره يو دين غوره کړي او خپله ازادي د دين له مقرراتو سره سمه مقيده کړي خو پدې سره چې ده پدې دين کې خپله ګټه ليدلې او دا عمل يې پخپلې ازادې ارادې سره ترسره کړی او هيچا ددې کار لپاره مجبورولای نشو. که چيرې هغه څوک مجبور کړي چې بيرته بې دينه شي نو پدې سره د هغه ازادۍ ته زيان رسوي او د عقيدې غوره کولو مخنيوی يې کوي.

**دريم احتمال:** انسان ازاد دی چې خپله عقيده وساتي او دوام ورته ورکړي دا هغه څه دي چې په جبر او زور سره دمنلو وړ نه دي، په اسلام کې حکومت دا حق نلري چې د خلکو د عقيدو څارنه وکړي، يا د هغه چاسره چې بيلابيلې عقيدې لري په جګړه ايز ډول خبرې اترې وکړي، هر څو چې مونږ پوه شو چې د انسان ځينې عقايد ناسم دي خو د مادي ګټو او دنيوي مقام لپاره هغه  نه پريږدي او د انحرافي عقايدو سره سم عمل کوي نو هغه د خدای په وړاندې مسئول دی.

تر کومه وخته چې ياد شخص خپل انحرافي عقايد پټ ساتي او په غونډو او محفلونو کې يې نه ښکاره کوي ترهغه پورې چې يوازې د خدای په وړاندې مسول دی نو هغه يو پټ مرتد( کافر) دی ولې که هغه مختلفو يا ګڼ شمير وګړو ته ووايي او ښايي د څلورم احتمال سره عقيده مينځته راوړل کيږي.

**څلورم احتمال:** انسان ازاد دی چې خپله عقيده را څرګنده کړي) د ډيرو توضيحاتو اړمند يو د اسلامي احکامو سره سم د يوې عقيدې څرګندول هم جايز او هم نه دي.

له جايز څخه موخه داده چې په اسلامي سرچينو کې داسې شواهد نشته چې په هغه سره انسان مجبور کړای شي چې د اسلام خلاف عقيدې په څرګندولو کې خپله خوله وتړي، د خپلې وينا د دوام مخنيوی وکړي او ورسره ځان خواشينی کړي، کله چې ويل کيږي د بيلابيلو عقايد څرګندول جايز دي نو پدې مانا نه ده چې اسلامي علما د بيلابيلو عقايدو په غوره کولو کې چپ او بې توپيره پاتې شي، ددې پرځای هغوی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لازمه ده چې د هغو نظريو او فکرونو د خپرولو په وړاندې پاڅون وکړي چې بدعت ګڼل کيږي، ځکه دغه امر د ديني لارښوونکو مکلفيت او دنده ده، علما او رهبران بايد د بدعت اميزو افکارو د له مينځه وړلواو ردولو لپاره تر هرڅه لومړی خپل منطقي او قوي دلايل پيدا او وړاندې کړي. څو د بدعت اميزه نظرياتو لرونکي افراد په قانع کوونکو دلايلوسره مجبور کړي چې خپل افکار او نظريات بيرته له ځان سره واخلي او ترشا يې کيږدي.**

**که چيرې دا ډول افراد منطقي دلايل هم ونه مني نو اسلامي علما مجبور دي چې د انحرافي عقايدو د خپريدو د مخنيوي لپاره له خپلو وروستنيو وړتياوو ګټه واخلي او پخپلو تکتيکونو او لارو کې بدلون راولي او له بلې لارې ګټه واخلي.**

**له کومه ځايه چې اسلام هم داسې امر نه دی کړی چې په ازاده توګه خپل انحرافي افکار خپاره کړي او پدې صورت کې له خپلې شته ازادۍ ناوړه ګټه پورته کوي او د خپلو انحرافي ناوړه عقايدو تخم د ځوانانو، نوي ځوانانو او ماشومانو په پاکو زړونو کې وکري(کښت) او په پايله کې يې اسلامي ټولنه د کفرګرايي او عقلاني ابتذال په لور بوځي، لکه څرنګه چې دغه عمل په افغانستان کې د کمونستانو په ازاد پرېښودو سره په ثبوت ورسېده.**

**ددې باوجود اسلام داسې امر نه دی کړی چې هر وخت چې مستبدين، ظالمان او اسلامي رهبرانو ته له غايب نظر وګوري او يا هم اسلامي رهبران د بې دينه عناصرو په وړاندې د مبارزې په لاره کې خپله زړروتيا او قرباني له ځانه ونه ښايي او ځان بې تفاوته وګڼي، هغوی د څښتن تعالی له لوري راليږل شوي استازي په ګمراهۍ کې ساتلي او خپل انحرافي عقايد پرې په زوره تحميلوي هغوی کله کله اسلامي علما په ښکاره توګه د مبارزې لپاره غواړي او نامالومه هيله مندی يې القاح کړې چې ګواکې ددې قدرت مدافع دښمن چپ کړي.**

**هغوی د اسلامي علماو په شهادت رسولو، بندي کولو، ربړولو باندې هم بريالي شوي دي، د اسلام دښمنانو هر وخت ددې شيطانت اميزې لارې څخه ګټه اخيستې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلګې په توګه کله چې امام حسین د اسلامي رهبرانو د اعمالو یا د اموي اسلامي خلافت په وړاندې پاڅون وکړ او ترهغه یې مقاومت وکړ چې د ځان، بچیانو او پلویانو د کورنیو مونثو غړو لاندې کیدو باندې تمام شو.

که مونږ نن وګورو چې خلک د بتانو، غواګانو او اور عبادت کوي ډېرې سترې لارې یې په پام کې نیولي او یا هم په نشه یې توکو اخته دي، د ظالمانو او مستبدینو تر ولکې لاندې دي او د نژادي او تبعیضونو مفکورې یې د خپلو اعمالو د لارښوونې په توګه منلي، دا ټول ددې لپاره دي چې په پیل کې یوه ناپوه فرد دا ډول باطل فکرونه ښکاره او په بیلابیلو ډولونو ترویج کړي.

هغوی یه سفسطه یي(ناسمو) نظریو سره د ساده مسلمانانو ماغزه مینځلي او دیته یې مجبور کړي چې د هغوی فاسدې عقیدې د حقیقي او واقعي عقیدو په توګه ومني، ځکه په هغه ځای کې کوم دیني عالم یا مبلغ وجود نلري، او که وي هم نو د خپل مسولیت د ادا کولو جرئت نه کوي او نه غواړي ترخو ځان په خطر کې واچوی.

د هغوی فکرونه په تدریجي ډول بدلیږي او د ناپوهه وګړو په ذهنونو کې د وحو په توګه ځای نیسي. پورتني واقیعت ته په پام سره دا ثابتیږي چې د پیغمبرانو بعثت او د اسماني کتابونو نزول د خدایتعالی لوی رحمت او نعمت دی.

پدې کتابونو کې د نیکو افرادو ترڅنګ ظالمانو او انسان وژونکو ته هم د نیکې لارې لارښوونه شوېده او ورسره د بدعت امیزه فکرونو د خپرولو مخنیوی هم شوی دی.

اسلامي او انساني مشورې حکم کوي چې د شیطاني فکرونو، جنایت کارانو او د انسان دښمنانو د له مینځه وړلو لپاره دې په کلکه او نه سترې کیدونکې مبارزه لاس پورې شي.

دغه راز مرتدین چپ نه دي ناست، د اسلام ضد فکرونه او پخپلې کاذبې ادعا سره د ډیموکراتیکي ازادۍ پلوي کوي او ددې پلوۍ په پلمه د ټولو فکرونو اونظرونو ته درناوی کوي څو چې د اسلام او مسلمانانو ریښتني عقاید سوري او له مینځه یې یوسي.

خو مسلمانانو ته لکه څنګه چې وایي په عین حق قایل نه دي او په ناځوانه توګه د هغوی فکرونه او عقیدو باندې ریشخند وهي، دا ډول ملحدین باید په دار وځړول شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترڅو له نورو مسلمانانو لار ورکه نه کړي او عقيدې يې ور خرابې نکــړې او اســلام او مسلمانانو ته د يوې نانځکې په سترګه ونه ګوري.

که چيرې د پيغمبرانو په راس کې ريښتنيو مسلمانانو بند، کړاو، وهل ټکول او په دار ځړول نه واى زغملى نو د فرعونيانو لمسيانو او جابر مشرانو به تر نن پورې پر بشريت خپلې مشرۍ

( حکمرواييۍ) ته دوام ورکړی وای. د ازادۍ او عدالت پراخه لمن به يې له ځمکې څخه ټوله کړې وه، که چيرې د افغانستان مسلمانانو لــه کمونســتانو ســره چــې د ديــن، معنوياتو، اخلاقو او انسانيت دښمنانو لاس او ګريوان شــوي نــه وای، وهــل ټکــول او رنځونه يې نه وای زغملي نو نن به د نړۍ پراخه برخــه د شــوروي اســتبدادي او بــې خدايه نظام حاکم وو.

ددې لپاره چې زمونږ دا بحث لا په زړه پورې شي هغه په اسلامي هيوادونو کې د غير مسلمان اتباعو د حقوقو راګرځول او ساتنه ده.

تر هغه وخته چې غيرمسلمان د مسلمان په وړاندې په جګړه لاس پورې نه کړي، نــو حق لري چې د نورو مسلمانانو په څير ژوند وکړي او له ټولو سياسي، اجتماعي حقوقو څخه په مساوي توګه ګټه پورته کړي.

هغوی ازاد دي چې خپل مذهبي مراسم پخپله خوښه ترسره کړي ولو که د اســلامي احکامو سره مختلف هم وي، لکه د جمعې پر ته په نورو ورځو کې رخصتي، په کليســا او حجرو کې د مذهبي مراسمو ترسره کول او ځينې نور مذهبي مراسم لکــه: دينــي شعار، شرابخوري، قماربازي او خنزير د غوښې خوړل هم د دوی لــه لــوري ترســره کيږي.

دغه راز دوی ترهغه پورې ددې مراسمو د ترســره کولــو اجــازه لــري ترڅــو چــې د مسلمانانو اعمال، ازادۍ او عقيدې کمزورې نکړي، د فقهې له نظره هر عمــل چــې د مسلمانانو د ازادۍ او عقايدو د فاسديدو لامل ګرځي اجازه نشته څو په ښکاره توګــه ترسره شي.

## په غرب کې د بشر حقوقو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بده مرغه د اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد ص او راشـــدينو خلفــاوو لــه وفــات وروسته د خلافت په مقام کې د خپلسرو افرادو په زياتوالي سره د افرادو حقوق ورځ تر بلې تر پښو لاندې شول.

اسلامي احکامو مکلفيتونو تر خپلي کچې هم لا زياته پراختيا ومونـــده، څنگــه چـــې اسلام ورځ تربلې خپل ماهيت د لاسه ورکاوو يو لامل يې هم د لرغونو پاچاهانو لارو او طريقو ته ميلان او گرايش پيداکول وو، او د ددې تمايل له کبلــه معنـــوي او اخلاقـــي ملوحظات په تدريجي ډول د مادي ملحوظاتو او نفساني غوښتنو تر اغيز لاندې راغلي وو.

د اموي او عباسي خلافتونو د مدعياتو په اعمالو کې د دې منفي تمايل لــه پيداکيـــدو سره سره بياهم اسلامي تيورۍ د اسلامي تمدن او علمي لارو څخه خپله د نفوذ لار د غرب په لور وغځوله، او په پايله کې يې غربيان هم د ناپوهۍ له درانه خــوب څخــه را ويښ کړل، او د مسلمانانو څخه د ترلاسه کړيو نظريو او فکرونو له لارې پخپلو مذهبي او رسانس اصلاحاتو لاس پورې کړ، د فکرونو او علومو په زيږيدو او د رسانس له پښو غورځيدو سره د انساني حقوقو د مکلفيتونو ترڅنگ د هغوی ارزښت او اهميت لا هم پورته شو.

د فرانسې د لوی (کبير) انقلاب، ديکتاتورۍ او استبدادي نظامونو له مينځه لاړل، پــه همدې سره د چاپ ماشين رامينځته او د رسانس د پوهانو اثارو چاپ او بيا پېژنـــدنې ته وړاندې شول ترڅو يوځل بيا چاپ شي او د ټولنې د ډيری افرادو گټو ته پــه کتــو سره يو ټولنيز نظام رامينځته شو.

له يوې خوا په غرب کې په نړيواله کچه د کورنيو جگړو رامينځته کيدل او له بلې خوا دساينس او ټکنالوژۍ پرمختگ، د معنـــوي انگيـــزو نـــزول ددې ســـبب شـــول چـــې بشرحقوقو ته پاملرنه زياته او ارزښت يې ډير شو.

بشر حقوق زمونږ د ورځيني ژوند يوه مهمه او حياتي موضوع خو حساســـه او جگـــړه زيږوونکې هم ده، په غرب په ځانگړې توگه په امريکا متحده ايالاتو کې د بشرحقوقو تش په نامه شعار دی او د عمل په ډگر کې يې هيڅ شی نه تر سترگو کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرکال د ملل متحد او غړو هیوادونه له لوري د بشر حقوقو د نړیوالې ورځ نمانځنه هم په همدې (شعاري) ډول کیږي، ځکه نه امریکا او نه نور غړي هیوادونه غواړي ځو پـه سمه او عادلانه توګه ددې ورځ نمانځنه وکړي، که چېرې داسې نه وای نـو نـن بـه د هیوادونو په داخل او نړیواله کچـه هـر ډول تبعـیض شـتون نـه درلـود، نـن ورځ د بشرحقوقو اړوند فکرونه په عملي ډول هیڅ شتون نه لري، البته د بشر حقـوق هغـه وخت د عمل جامه اغوستلای شي کله چې نه یوازې د بشر حقوقو اعلامیــه بلکــې د هغه د هر اړخیز تامین لپاره نه یوازې د ملل متحد پـه منشـور بلکـې د ټولـو غـړو هیوادونو په اساسي قوانینو کې داخل او قانوني صبغه ورته ورکړل شي.
په ملل متحد او غړو هیوادونو کې باید د بشرحقوقو د فکرونو د عملي کولو لپاره نــه یوازې جلا قوانین بلکې ددې قوانینو د عملي کولو لپاره باید بیلــې اداري رامینځتــه شي.
دغه له یوې خوا د ملل متحد په چوکاټ په ځانګړې توګه د هاګ محکمې ترڅنــګ د قوانینو جوړولو او پلي کولـو لپـاره ځــانګړې اداري او لــه بلــې خــوا د متخلفــانو او سرغړونکو لپاره د لازمو سزاګانو قوانین جوړول او پلي کول هم رامینځه او په چټکـو فعالیتونو لاس پوري شي. ترڅو له دې لارې د تبعیض هغه ناوړه شرایط له مینځــه لاړ شي چې نن په نړیواله کچه حکفرما یا حاکم دي او تر ټولــو یــې وروســته پــاتې پــه ځانګړې توګه اسلامي هیوادونه قرباني دي.
دا امر تر هغه امکان نلري چې د ملل متحد منشور له متن څخه چې پینځوو ځواکمنو غړو ته چې د ملل متحد په امنیت شورا کې د ویټو حق ورکړی له مینځه یوړل نشي، که چیرې د ملل متحد د منشور له تندي څخه دا ټاپه لیرې نشي نو په هر سیمه کــې به د ملل متحد ټول اقدامات د پینځه وو غړو هیوادونو په ګټه او د نورو په زیان وي.
**بیلګه:** که چېرې د ویټو حق لرونکی کوم هیواد د بشرحقوقو د قوانینــو خــلاف کــوم عمل ترسره کړي او دا موضوع د امنیت په شورا کې مطرح شي، نو دا هیواد به له خپل حق(ویټو) څخه په ګټې اخیستنې سره یاده موضوع او پرې بحــث کــول د نــورو پــه وړاندې بې ارزښته وبولي او له مینځه به یې یوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې کبله د ملل متحد ټول اقدامات د هغو هيوادونو په ګټه دي چې د ويټو حق لري او يا د دوی دوستان وي او د هغو هيوادونو پر خلاف وي چــې د ويټــو حــق لرونکــو هيوادونو تر لاس لاندې او يا يې هم نوکران وي.
دا ټکی بايد په پام کې ونيسو چې د بشرحقوقو ملاتړ په اصل کې معنــوي او اخلاقــي ماهيت لري، انسان څرنګه کولای شي چې له هغو غربي هيوادونو څخــه چــې مــاده پرستي، او ماديات ګرايي يې د ټولو وګړو په ذهنونوپه ځانګړې توګه په سرمايه دارې طبقې باندې مسلط وي د يوې اخلاقي او معنوي موضوع د ملاتړ هيله وکړي او طبعآ د سرمايه دارې طبقې ګټې ددې امر مخنيوی کوي
همدا د ماديات ګرايي خوځښتونو چټکتيا ده، چې ترمينځ يې ټولنيز اخلاق او اړيکې ورځ تر بلې د ترينګلتيا او کمزورتيا په لور درومي، ټولنيز ژوند يې په جهنمــي هغــه بدل شوی دی، يوازينی وسيله چې ددغې بدمرغۍ درمل جوړيــدای شــي هغــه لــه کموالي او بحران څخه  د معنويات ژغورل دي هغه د معنوي کلتــور بيــا را ژونــدي او پياوړي کول دي.
طبعآ نظرونو د دين اصولو  ته ساه وربښلی شي ځکه همدا معنويات دي چــې ډيــری دنيوي نظامونه پرې ټينګ دي.
معاصر انسانان د هغوی د حقوقو له مينځه تلل له تهديد څخه ژغوري او لــه تعصــب پرته د دين اصول ته مخ راړول او دين د يو بشپړ اسماني دين  په توګه د مسايلو پــه حلولو کې خورا مرسته کوي.

## د بشر حقوقو اســلامي نسخه:

ټول دينونه که هغه اسماني او که غير اسماني د نړۍ د خلکــو لپــاره د بشــرحقوقو د ساتنې په برخه کې يوه غوره او ارزښتناکه ډالۍ ده.
 د اسلام سپڅلي دين اهميت پدې کې نغښتی چې نه يوازې وروستنی اسماني ديــن دی خو د نورو دينونو برعکس اساسي قانون يانې قرانکريم ډېر ژر پداسې ليکلي ډول رامينځته شو چې په ټول ژوند کې پکې بدلون راوستل ناشوني دي، د تغير ورکوونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

انحصارګرانو او د لاس وهونکو له ماهرانو په خپل امن ساتل شوی او د بدلون توان یې د نړۍ په یو فرد کې هم نشته.

اسلام له شپږمې میلادي پیړۍ راهیسې د بشرحقوقو د ملاتړ او د انسـاني موقـف د لوړوالي په موخه بشپړ اخلاقي قوانین رامینځته کړیدي، پـه بشـرحقوقو بانـدې پـه بشپړې پوهیدا سره انسان کولای شي چې اسلامي نظریاتو ته د قران او سنت له لارې نوښت وروښي.

د قرانکریم د ارزښت اړوند خدای ج فرمایلی دي

دا هغه کتاب دی چې ایاتونه یې په قاطع او پرکنده ډول راغلي دي(11 ! 1 ).

درواغو ته په هغه کې (قرانکریم) ځای ندی ورکړل شوی.( 41 : 42 ).

صحت یې په ټوله ایز ډول جوړ او ټینګ دی ( 69 : 51 ).

ددې کتاب ( قرانکریم ) هره هینداره د هغه څه لارښوونه کوي چې د ټولو مسـلمانانو لاسرسی ورته ممکن دی. ( 17 : 1 ) .

دا هغه کتاب دی چې ما پر تا نازل کړی ای محمده څو چې په وسیله یې ته انسانان د پروردګار په اجازه د روښانتیا او خدای تعالی لوري ته راوبلې (14 : 1 ).

پدې ترتیب قرانکریم او سنت ( حدیث) او د حضرت محمد ص سیرت د بشر حقوقـو په اړه ډېر مالومات وړاندې کړیدي، دغه اسلامي سرچینې د بشرحقوقو او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه په پوره تفصیل سره مالومات وړاندې کړي دي او لاندې موضـوعات په بر کې نیسي.

**الف ـ عمومي اساسي حقوق**: عبارت دي د نارینه او ښځینه حقوق، د ماشومانوحقوق، د لویانو حقوق، د ناروغانو، ټپیانو، مظلومانو، د شتمنو او بیوزلو حقوق ټول هغه حقوق دي چې د خدای ج له لوري انسانانو ته ښښل شوي دي.

پدې حقوقو کې د ژوند کولو، د ژوند د بوختیاوو، غمځپلـو تـه د درنـاوي، د ازادۍ او راکړې ورکړې، له ابتدایي وسایلو د ګټې اخیستنې او د انسانانو د برابروالي حقوق هم شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څرنګه چې څښتن تعالی پخپل کتاب کې پدې اړه فرمايلي: ای انسانانو! تاسو هر يو مې له يوې مور او پلار څخه پيداکړي ياست او ددې لپاره مې په بيلابيلــو قومونــو وويشلی چې يو بل وپېژنئ.

**ب ـ د اسلامي هيواد د اتباعو حقوق:** د يو اسلامي هيواد بشــري حقــوق د اساســي حقوقو ترڅنګ، د ملکيت او ژوند ساتنې ازادۍ، د انساني کرامت، د شخصي ازادۍ او د امنيت او د ژوند خصوصي حرمت ساتنې حق، د بيان حق، د ظالم په وړاندې د ژوند حق، د ااتحاديو جوړولو، د عقيدې او ازادۍ حقوق دي.

پدې اړه قرانکريم وايي: په دې دين کې د زور عقيده وجــود نلــري لکــه د، مــذهبي عقايدو ملاتړ حق، د قانون په وړاندې د برابرۍ حــق، لــه ابتــدايي اړتيــاوو څخــه د برخمنتيا حق او د اسې نور ټول هغه څه دي چې په اسلام سپيڅلی دين کې انسانانو ته ورکړل شوي دي.

په اسلامي هيوادونو کې هيڅوک ددې حق نلري چې يو څوک د يو کار ترســره کولــو لپاره مجبور کړي. لکه په ځينو اسلامي هيوادونو کې حکومتي چارواکي ښځينه دېته مجبوروي چې اسلامي حجاب په پام کې ونه نيسي، يا نارينه مجبوروي چې له يــوې څخه له زياتو ښځو سره واده ونکړي حتا که دغه امر له نورو ښځو ســره د نامشــروع اړيکو ټينګولو سبب هم وګرځي.

په دواړو حالتونو کې بايد اتباع دا حق ولري چې د چارواکو له اوامرو او قوانينو څخــه سرغړونه وکړي.

**ج ـ د دښمنانو حقوق:** اسلام په بشپړې ځيرتيا سره قوانين او مقررات جوړکړي چې په لازمي ډول ترې د اخلاقي اصولو په توګه کار واخيستل شي، څو د دښمنانو حقوق د هغوی کړنو ته په نه پاملرنې سره په پام کې ونيول شي البته دا حقوق د محاربانو او غيرمحاربانو دښمنانو ترمينځ توپير کوي پداسې حال کې چې غير محارب دښــمنان لکه: لويان، ناروغې ښځې او ماشومان بايد ونه ځورول شي.

د محاربو دښمنانو حقوق لکه: د ټپيانو ساتنه، په اور باندې نــه ځورونــه، لــه جګــړې وروسته دهغوی نه وژل او د هغوی د شتمنيو درناوی دی چې بايد په سمه توګه په پام کې ونيول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ـ اسلام د ښځو په حقوقو ډېر ټینګار کوي، څښتن تعالی پــه قرانکــریم کــې یــوه سیپاره د ښځو د حقوقو لپاره وقف کړېده او تفصیل سره یې بیــان کړیــدي. د لــوړو حقایقو چوکاټ بشري حقوق څرګندوي، چې څوارلس سوه کاله وړاندې د اسلام دین له لوري ټاکل شویدي په راتلونکو توضیحاتو کې به ولیدل شي چې د لاسته راوړنو او ټکنالوژۍ نړۍ لا تراوسه پدې نه ده توانېدلې چې عدالت، بشردوستانه قــوانین چــې اسلام څوارلس سوه کاله پخوا رامینځته کړي بشریت ته وړاندې کړي.

## اســلام د بشر حقوقو د مسایلو د حل لارې په توګه:

بشر حقوق د انسانانو د یو هیومنیزم (انسان دوســتي) احســاس ضــامن دی، اســلام څوارلس سوه کاله وړاندې د انسانانو د اجتماعي ژوند مسایل دهیومنیزم پــه بنســټ رامینځته او ټینګ کړل، البته له هغه وخته چې مسلمانانو په ځانګړې توګه د هغــوی مشرانو سمه شرعي لار پرېښوده او د نفساني او شیطاني وسوسې په رڼا کې انحرافي لارې ته واوښتل نو د وګړو اجتماعي حقوق یې هم له ابهامــاتو او نیمګړتیــاوو ســره مخامخ کړل.

د بشر حقوقو، اسلامي ټولنه نالیدلې (نادیده) ونیوله چې د څښتن تعالی لــه لــوري د وحو په شکل نازله شوې وه، د دیــرارک چــې یــو ایټــالوي علــم دوســته انســان وو کوښښونه د بشرحقوقو په بیا پیژندنه کې لومړني ټکان وو.

دیرارک د بشرحقوقو خوځښتونو ته ستر قدرت او ځواک ورکــړ، دا عاقبــت الامــر د ایټالیا له پولو څخه واوښت او په ټوله اروپا کې یې پراخوالی وموند په زړه پوری ټکــی دادی چې هیومنیزم د اروپا د رسانس دورې د پرمختګ جوړښت دی د بشر حقوقو د را ژوندي کولو په برخه کې بله هڅه چې په تاریخ کې ثبــت شــوې هغــه د اتبــاعو د حقوقو خپرول وو، دا د انساني ډلو له خپرونکو څخه ده چې د فرانسې انقلاب د اصولو یوه ضروري برخه وه.

دغه اعلامیه چې په کال 1789 کې د 117مادو په لړلو سره د فرانسې ملي اســامبلې لــه لوري تصویب شوه او په 1791 کال په فرانسه کې د اساسي قانون د سریزې پــه توګــه ګټه پورته کړای شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم په لومړیو کې فکر کېده چې پدې اعلامیه کې دا اصول نغښتي چې په نړیواله کچه تري ګټه واخیستل شي خوله کومه ځایه چې جوړونکي یې د متوسطې طبقې څخه وو نو په همدې سره یې د متوسطې طبقې اهدافو ته هم انعکاس ورکاوو.

هغوی غوښتل چې ددې اعلامیې له لارې د منصبونو او اداري موقفونو ترلاسه کولو لپاره ځانته لاره هواره کړي، د بشر حقوقو د فورمولبندی په برخه کې دریمه هڅه او کوښښ او د هغې پایلې( د بشر حقوقو نړیواله اعلامئیه) د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسیدو وروسته وې، چې په هغه کې انساني بشریت بې مثاله استثمار خورا ظلمونه او غمونه وزغمل خو دغه اعلامیه د لنډې مودې لپاره د هغوی د ټپونو پټې وګرځېدله.

ځاني او مالي زیانونه د دریمې نړۍ په هیوادونو په ځانګړې توګه افغانستان، کشمیر او بوسنیا کې په چټکې سره دوام لري، دغه نړیواله وثیقه په بشرحقوقو کې د تخطۍ او د ملل متحد چلوونکو ځان غوښتنه مهمه دا چې د هغوی د خپلو محدودیتونو او کموالي د مخنیوي لپاره بې خاصیته او بې ګټې ثابته شوې ده.

پاتې دې نه وي چې ددې اعلامئې د ټولو زیانونو لاملونه؛ په اهدافو کې د همغږۍ نشتون، د انحرافاتو او ناکامیو پلي کوونکو او د بیا غوښتونکې محکمې قوې نشتون وو.

دا اعلامیه د څلورو کالو په موده کې پدې ونه توانیده چې له نابرابرۍ څخه رامینځته شوې ستونزې حل او له مینځه یوسي. په هغه ډول چې دوی د کاغذ پرمخ د بشر افرادو د زیاتو حقوقو تضمین کوي خو له بده مرغه د ملل متحد سازمان ډیری غړو هیوادونو په یو نه یو ډول په بیلابیلو اندازو د هغه مقررات له مینځه یوړل او د کارونې مواد او اصول یې خراب کړل خو په ډیر استثنایي ډول دې تخطي کوونکو ته نه یوازې سزا ورنکړل شوه بلکې له خپلو دندو څخه هم ګوښه نه شول او پخپلو ځایونو یې خپلې کړنې ترسره کولې.

پدې ډول حالاتو کې ددې اړتیا لیدل کیږي چې دا اعلامیه بیا په چټکه توګه تر نظر لاندې ونیول شي او د نوي کولو په برخه کې یې نه یوازې غربي نظرونه چې تل په مادي ملحوظاتو بلکې ترڅنګ یې باید اسلامي اصول چې د بیخبینا( زیربینا) ډیری برخه یې اخلاقي نظرونه او معنویات جوړوي هم په پام کې ونیول شي او ګټه تري پورته کړل شي، څو د دواړو لورو د نظرونو له جوړښت څخه یو متوازنه اساسنامه رامینځته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بشرحقوقو موجوده حال ته په پـاملرنې سـره اوس د دې وخـت رارسـېدلی چـې اسلامي هیوادونه ورځیني واقعیتونـه درک او د بشـر حقـوق د اسـلامي شـریعت د احکامو یوه مهمه برخه وګڼي او پدې تمه ونه اوسي چې غرب یا شرق دوی پدې لاره روان کړیدي ددې لپاره چې پدې برخه کې د مسلمانان د بریالیتوب توفیق پیداکړي نو باید د اسلامي احکامو په عملي کولو سره یو رسانس چې په ټوله ایزه توګه حقـوق او په ځانګړې توګه بشرحقوقو کړي په ټوله ایزه توګه رامینځته شي.
البته له دې اقداماتو څخه باید وړاندې د اسلامي حقوقو تیوری په عملي ډول جوړه او تنظیم شي څو د ترسره کولو او عملي کولو لپاره یې لار اسانه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی
# په اسلام کې د بشرحقوقو عمومي تیوري

پدې څپرکي کې د بشر حقوقو په اسلامي مقولې او هغه لار چې اسلام پدې برخه کې وړاندې کړې بحث کوو ترڅو د هر حـق او اړونـد قـوانین د توضـیح کولـو لـه لارې دعمومي تیوري او عملي برخې ترمینځ توپیر روښانه شي.
په اسلامي فقه، دیني پالیسۍ او اسلامي دیني علومو کې د بشرحقوقو برخې تـه پـه کاملاً ځانګړې توګه پاملرنه نه ده شوې، ددې امر سبب دا دی چې دین او مذهب لـه حق سره د فقهې له مخې چلند کړی څو د دین هیئت د خلکو په ژوند کې په عملـي توګه چې ددین اساسي موخه ده عملي بڼه خپله کـړي، د حقوقـو د ویشـلو دینـي چوکاټ د اصول په کتاب کې عمدتاً حقوق، د ټاکلو او دندې قضاوت په بر کې نیسي، د ازادۍ، حقوقو او دندې قضاوت ټول هغه بحثونــه دي چــې مکلفیتونــه توضـیح او بیانوي اساسي هدف ته د رسیدو لپاره د ازادۍ د حقوقو د عمومي قوانینـو شـیندلي فصلونه د یو علمي نظم په چوکاټ کې راټول او وروسته په بسـتیزو قوانینـو کـې د بشرحقوقو اړوند نظر وړاندې شوی دی.

## ددغې موضوع ځینې برخې په لاندې توګه تر بحث لاندې نیسو..

**1 - په اساسي قوانینو یا نظامونو کې د بشر حقوقو پرمختګ**

له دې بحث څخه موخه د بشرحقوقو د پرمختګ تاریخ، توضیح او څرنګوالی وړاندې کول نه دي بلکې پرځای یې هـدف دادی چــې د هغــه د وحــې سـبب، ارزونــه یــا ځانګړتیاوې د اسلامي تصور په رڼا کې څه وو؟.

**الف ـ** د لرغوني روم پرمهال به ویل کیدل چې باید د دولت ارادې تــه ټــول انســانان تسلیم وي، که څه هم دین له دولت څخه جلا شوی خو پــه انســاني کرامـت بانــدې ټینګار او خالقي مراعات پخپل حال پاتې. چې دا کرامت یې وربښلی دی، په پایله کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طبيعي حقوقو مقوله د نويو شرايطو له بطن څخه وزيږيد طبيعي حقوقو د افرادو په حقوقو او د دوی په توان د استبداد په وړاندې په درېدو ټينګـار کـاوو د وروسـتنی مقولې په ودې سره د حقوقو مذهبي اساس د هېرېدو په لوښي کې کېښودل شو او له انسان څخه دفاع د خالق د قانون په توګه پيل شوېده، داسې فکر کېده چـې فـرد د هغو طبيعي حقوقو لرونکی دی چې په پيل کې د تنظيمولو لپاره وړاندې شـوی دی او دا حقوق د مغزو په ملګرتيا سره کشف کيږي د افرادو دا حقوق عبارت دي له د ژوند، ازادۍ او مالکيت حق.

فرد د ټولنيزې پروسې له لارې پخپل فردي اصالت باندې ټينګار کوي ترڅو په ټولنه کې خپل ژوند تضمين کړي، ځکه د خپل فرديت له برکته خپل اړوند حقوق نورو ته نه پرېښودل کيږي، ددې لپاره چې دا حقوق خپل پيدايښت ته دوام ورکـړای شـي نـو دولت يې د ساتنې دنده پرغاړه لري.

ب ـ د اجتماعي تړون مقولې په اجتماعي ژوند کې خپله لاره پرانېسـتله، د همـدې مقولې په رڼا کې وه چې د خپلو هغو عمومي ازاديو يوه برخه يې پرېښـوده چـې پـه طبيعي ژوند کې ورڅخه برخمن وو.

ددې امر هدف د يوه غوره قدرت جوړول وو چې د هغوی سازماندهي او ساتنه وکړي، د ځينو ازاديو د پرېښودو علت هم له دې څخه ويره بلل شوې وه.

که چېرې دولت د مداخلې کولو توان ونلري نو کيدای شي پدې سره خپل موجوديت هم له لاسه ورکړي، او په پايله کې به د خپل هوکړه شوي يا منل شوي صـلاحيت لـه اصل څخه تخطي وکړي.

د همدې پرمختګونو په رڼا کې وو، چې د بشرحقوقو لومړنی کنوانسيون رامينځته شو. په 1215 کال په انګستان کې د ازادۍ ستر فرمان، په 1688 کال کې د حقوقو منشـور، په 1776 کال د امريکې په متحده ايالاتو کې د ازادۍ اعلاميه، د فرانسې د بشرحقوقو اعلاميه او د فرانسې له انقلاب وروسته د اساسي قانون مينځته راتګ.

اوس دا څرګنده ده چې د ازادۍ او بشرحقوقو په بحثونو کې فردګرايي سـتره ونـډه لري.لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱ ـ بشر حقوقو او ازادۍ دوه طبيعي شيان دي او نورو ته نه پر ښودل کيږي، خو ممکن انسان يې د عملي کولو لپاره مجبور کړای شي.**
**۲ ـ دا حقوق او ازادۍ چې له کومه ځايه امکان لري له بنديز پرته يا په غيرسازمان يافته شکل عملی کيږي.**
**۳ ـ دا حقوق مهمې مثبتې او منفی بڼې لري، د بيلګې په توګه: دولت مکلف دی چې د هغوی د عملي کولو په برخه کې د افرادو مخنيوی وکړي او ترڅنګ يې بايد پکې پخپله هم کومه غلطۍ ونکړي، خو په عين مهال له دولت څخه افراد دا غوښتنه هم نه کوي چې دا حقوقو ورته وړاندې کړي همدا ډول افراد ددې حق نلري چې دولت دوی ته د خدمت کولو لپاره مجبور کړي.**
**پر همدې بنسټ دا مکلفيت په دولت اچول شوی چې په کوم کار کې تشبث ونکړي خو دولت هم مکلف نه دی چې پخپله څه وړاندې کړي.**
**۴ ـ دا حقوق فردي يانې په افرادو پورې اړه لري او دولت سره اړيکه نلري ځکه په ټولو افرادو پورې اړوند دي نه په يوې ځانګړې ډلې پورې.**
**ج ـ په اروپا کې د صنعت پيدايښت او د هغه د کار وړ توکو سره اجتماعي ډيموکراسۍ پيدا شوه او په همدې سره په پايله کې بشر حقوقو په لومړي کتار کې ځای ونيوو.**
**په ۱۸۴۸ کال په فرانسي کې داساسي قانون او اروپا کې د نورو اساسي قوانينو انفاذ له دولت سره د اوسيدونکو د ملاتړ، ساتنې او روزنې لپاره ښکاره شول.**
**د ـ د لومړۍ او دويمې نړيوالې جګړې ترمينځ واټن کې د پرمختګ څرک ولګيد د اروپا په ځينو اساسي قوانينو کې د سوسياليستي نظريو بوی هم احساس شو د لومړي ځل لپاره د کار، اجتماعي بيمې، د اتحاديو جوړونه او د کورنيو حقوق رامينځته شول، په همدې ترتيب د دولت د مداخلې اصل چې له فردګرايې سره مخالف وو تشبث شو، ډير وخت لاتېر نه وو چې شوروي اتحاد په بشپړ ډول پر سوسياليستي نظام واوښت او د دولت مداخلې دوام او ټينګښت پيداکړ.**
**هـ ـ له دويمې نړيوالې جګړې وروسته ډير اساسي قوانين د شوروي اتحاد د طريقې په څېر پيل او په ختيځو اروپايي هيوادونو کې نافذ شول. ددې په زياتوالي سره ډيری افريقايي هيوادونو د خپلواکۍ د ترلاسه کولو وروسته داسې اساسي قوانين نافذ کړل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د بشرحقوقو نړیواله اعلامیې ته پکې ځای ورکړل شـوی وو، د غربـي اروپـایي هیوادونو اساسي قانون موضوع هم همدا ډول وه. ددې پـه زیـاتوالي سـره ډیـری د قراردادتي نړیوالو اسنادو کنوانسینونه راتلونکي سره سم صادر شول.

**د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه: ( 12 اکتوبر 1948 ).**

**د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون: ( 16 دسمبر 1966 ).**

**د بشرحقوقو لپاره اروپایي تړون:( 12 اپریل 1950 ).**

**د فرهنګي، سیاسي او اقتصادي حقوقو تړون: ( 16 دسمبر 1966).**

**دا مرحله د راتلونکو ځانګړتیاوو لرونکې ده:**

۱ ـ د محدودیت په برخه کې د د دولت لپاره د ازادۍ او بشرحقوق د حقوقو او ازادۍ د انسجام د تامین په موخه رامینځ شوي دي.

۲ ـ د بشرحقوقو له فردګرایې څخه د جامعه ګرایې په لور وده وکړه، د حقوقو په بـل ډول.

بیلګه: د کورنیو، ملي، سیمه ایز او نور حقوق د یوې پیاوړې ډلــې لــه لــورې ســمون موندلای او تامینولای شي، دغه حقوق د بني ادم لپاره د خدمت کولو په توګه چې یو عمده هدف دی ګڼلی شو.

له دې وروسته چې بل پرمختګ د ګډون (شراکت) په برخه کې رامینځته شو هغــه د حقوقو عملي کول وو. **لکه:** د ډله ایزعبادت او د اتحادیې اواحزابو جوړونې حق دي.

۳ ـ بشرحقوق د منفي بڼې څخه د مثبت کېدو په لور درومي پدې مانا چې د اقتصــاد او ټولنیزو حقوقو په دولت باندې مثبت مکلفیتونه تحمیلــوي، د دولــت لــه عمــومي چارواکو څخه غوښتل کیږي چې سمې چوپړتیاوې لکه: عامه روغتیا، ټوله ایزه بیمه، زده کړه او روزنه د افرادو لپاره ترسره کړي، پدې توګه دولت ځان مجبور بولي چې د ټولنې اقتصادي حالت په رسمیت وپېژني.

دولت د لاندې وسایلو څخه د یوه په وسیله لاسوهنه ( مداخله ) کوي

۱ ـ د مداخلې عادي وسیله څنګه چې په لودیځو اروپــایي هیوادونــو کــې پکــاروړل کیږي، قانوني انفاذ او وده وه چې د ټولنې د بیوزلې طبقې د ګټو ضمانت یې کاوو او له دې سره یې پر اقتصاد باندې د خلکو تسلط ته غاړه ایښودله. پــه اقتصــاد بانــدې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو تسلط دوی ته د داسې حکومتونو د ټاکلو حق ورکوي چې په اجتماعي عقايدو باندې باور ولري، دغه راز پدې برخه کې چې هره ګډوډي را پېښېږي نو کېدای شــي چې هغه پارلماني بڼه (شکل) ولري.

۲ ــ له کومه ځایه چې د مداخلې عادي وسايلو خپله د تاثير قوه د لاسه ورکړې وه، نو د واک پر ګدی قدرت د بدلون لپاره له انقلاب پرته بلــه لاره نــه وه موجــوده دا ډول ګډوډي د هغو افرادو زړونه ګرموي چې له ټولنيزو بدلونونو سره مينه او علاقه لري، په عمومي توګه نوی حاکم حکومت به يوازې په هغو بدلونونو بسنه ونکړي چې د عــادي مداخلې له لارې ترلاسه شوي دي، ددې پرځای کوښښونه کيــږي ترڅــو اجتمــاعي مناسباتو(اړيکو) ته د سوسياليستي افکارو يا زور له لارې بدلون ورکړي.

په ډيرو هڅو او کوښښونو سره ټولنه د فرګرايي له نظام څخه اشتراکيت، ظلم او پــه بې رحمانه وژنو باندې واوښته او بېلګې يې هم کولای شو شــوروي اتحــاد، چــين او ختيځو اروپايي هيوادونه وبولو.

مهم ټکی چې دلته يې بايد يادونه وشي هغه دادی چې دواړه ډوله عادي او انقلابي له هغه ناپييلي خاصيت څخه سترګې پټوي چې د فردګرايي نظام د دولت حاکم نظام ته د تشبثي نظام خطاب کوي دواړه ډوله په اقتصادي چارو او د مالکيت په حقوقو کــې مداخله کوي.

په کومه ټولنه کې چې سياسي ازادی موجوده نه وي او اقتصاد يې چې د ټولنې ډيری وګړي کارګر وي له خورا بيوزلتوب سره لاس او ګريوان او د يوې واحدې ډلې تر تسلط يا لاس لاندې وي.

**ايا کورنۍ ازادي به دهغه چا لپاره مانا ولري چې د ژوند کولو زمينه هم ورته نــه وي برابره؟**

**ايا زده کړه به د هغه چا لپاره مانا ولري چې د ترلاسه کولو توان يې نلري او لګښتونه يې نشي پوره کولای؟**

په همدې سره سوسياليستي افکارو دا ثابتوله چې د ټولنې سازمان د دولت دنده ده. د نظريو دا وروستنۍ لاره د ګڼ شمېر ارزښتونو لکه: ديــن، کــورنۍ، د قراردادونــو او خصوصي مالکيت ساتنه کوي په عين وخت کې دولت ته اجــازه ورکــوي چــې هغــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهدافو ته د رسیدو لپاره په لړه کچه مداخله وکړي، د اقتصاد په برخــه کــې رهبــري شوی اقتصاد ټاکي ځکه دا عمل د کلي اقتصاد د انحصار په پرتله له ځان سره ډیــرې ستونزې او لوړې ژورې نلري.

۳ ــ د دریمې نړۍ ډیرى هیوادونه د اسلامي هیوادونو په ګډون لــه دویمــې نړیــوالې جګړې خپلې خپلواکۍ ترلاسه کړې، او د هغوی یوه غــوره والــی د عصــري اساســي قانون انفاذ وو، چې د بشرحقوقو عناصر هم پکې وو، خو سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي ګډوډیو یوازې د هغوی په لیکلو سره په اساسي قوانینو کې اثبــات نشــي موندلای او باید له هغو ریښتینو اصلاحاتو وړاندې وروسته زده کړه، روزنه او تبلیغات په ټولو سیمو، برخو او مرحلو کې ترسره شي.

وـ کله چې په سنتي نظامونو په ځانګړې توګه انګلستان، فرانســه او امریکــا کــې د بشرحقوق اعلان شول نو دبته یې تر ډېره پاملرنه وکړه چې دې ډول حقوقو ته بایــد درناوی وشي او حتی په کلاسیکو بڼو کې د هغوی تضمین او ساتنه وکړي.

دغه تضمین بیلابیلې لارې او بڼې خپلې کړي. خو ټــول د بشــرحقوقو د قوانینــو پــه حاکمیت نه بلکې په نورو قوانینو باندې ټینګ ولاړ وو. له کومه ځایه چې دغه حقــوق په قوانینو کې لیکل شوي وو نو ډیر فشارونه یې نلرل او کوم تقنني ارزښت یې هم نه درلود نو پېژندل او ارزښت یې په خلکو باندې په اجباري ډول شول.

د اساسي قوانینو ځینې حقوقپوهان دلیل راوړي چې دا حقوق د عامه قوانینو په څېر ارزښت نلري همدا ډول هغو افرادو چې د هغوی اجباري ارزښت یې پېژندلای وو نــو هغه یې د اساسي قانون په پرتله ډېر لوړ ګڼل ځینې یې بیا له اساسي قوانینــو ســره برابر بولي.

په پایله کې هغوی د حقوق پوهانو په وړاندې اساسي قوانین له جبر پرته بل شی نــه ګڼي، ځینې یې بیا د همسطحه عامه قوانینو په نوم یادوي پدې ترتیــب پکاروړنــه او پاملرنه یې په دولت نه بلکې په عادي حقوق پوهانو او اساسي قوانینو اجباري دي.

د امریکي په متحده ایالاتو کې دوه مقولې ( طبیعي قــانون او اجتمــاعي قــرارداد) د منشور او خپلواکۍ په اعلامیه کې زیات شول څو د عادي عرفي قوانینــو ســمه مانــا افاده کړي بنآ عرفي حقوق پوهان مجبور دي چې د هغوی پیروي وکړي، قضایه قــوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له مقننې او اجرائې قوې څخه جلا ده د قوانینو د یوې برخې د قانونین مسـئوله ده.
پارلمان یا ولسي جرګه د عامه افکارو په نسبت دې حقوقو ته زیان نشي رسولی ځکه ولسي جرګه یا پارلمان دېته اړ دی چې خپل د قانون جوړونې صـلاحیت د ژونـد پـه اړدوړ په ځینو دودونو کې چې د تقنني ارزښت یا اقتصادي او اجتماعي لارښـود لـه رایه ورکوونکو څخه ترلاسه کوي، په همدې ترتیب په هغو لارو کې چې د بشرحقوق تضمیني څېره خپله کړې په لاندې ډول دي...
**۱ ــ** د مقننې، اجرائې او قضایه قوې بیلوالی ترڅو د هغوی قدرت مالوم او وپلټل شي.
**۲ ــ** له تقنني پلوه څارنې ترهغه وخته پورې تضـمین کیـږي ترڅـو چـې قـوانین د اساسي قانون په چوکاټ کې ځای لري.
**۳ ــ** حقوقي څارنه باید ترهغه وخته تضمین ، چې ټولې سازماني او فردي پرېکـړې د اساسي او نورو قوانینو په چوکاټ کې ترسره شي.
**۴ ــ** پارلماني استازیتوب چې په بشرحقوقو کې تخصص یا وړتیا لري؛
**۵ــ** په مستقیم ډېموکراتیک نظام کې د پوښتنو او لیکونو له لارې د وګړو مسـتقیمه څارنه؛
**۶ ــ** د اطلاعاتي او تبلیغاتي وسایلو له لارې د ګوندونو په وسیله د وګړو غیر مستقیمه څارنه؛
**۷ ــ** د بشرحقوقو لپاره ځانګړې محکمه یي اطلاعات لکه: په استرابورک کې اروپـایي محکمه؛

**ژ ــ حقوق عبارت دي له:**
**لومړی ــ** سنتي حقوق او ازادۍ؛
**دویم ــ** نوي حقوق ( اقتصادي او اجتماعي).
ــ سنتي حقوق او ازادۍ، قانوني صلاحیت او ازادۍ په بر کې نیسي...
**۱ ــ په عمومي ډول برابروالی ( مساوات) عبارت دی له:**
**الفــ** د قانون په وړاندې برابروالی (مساوات).

(c) ketabton.com: The Digital Library

بــ د عدليې قوې په وړاندې برابروالی؛

چ ــ په ټاکلو او چوپړتیاوو کې برابروالی؛

**۲ــ** په ټولنیزو مکلفیتونو کې برابروالی عبارت دی له...

**الف ــ** د مالیاتو په ورکولو کې برابروالی ( مساوات).

**ب ــ** په عسکري چوپړتیاوو کې برابروالی؛

**∏ــ سیاسي حقوق عبارت دي له...**

**الف ــ** د ټاکلو یا ټاکل کیدو حق؛

**ب ــ** په ټولپوښتنې سره د نظرونو څرګندولو حق؛

**III ــ د فرد په مادي ګټو پورې اړوندې ازادۍ:**

**۱ــ** شخصي ازادۍ؛

**۲ــ** د ملکیت یا مالکیت ازادۍ؛

**۳ــ** د شخّصي کوډ لرلو ازادۍ؛

**۴ــ** د کار سوداګرۍ او صنعت ازادۍ؛

**VI ــ د فرد په معنوي ګټو پورې اړوندې ازاد...**

**۱ــ** د دین او عبادت ازادۍ؛

**۲ــ** د فکر او سازماندهي ازادۍ؛

**۳ــ** د زده کړې او روزنې ازادۍ؛

**VI ــ نوي حقوق عبارت دي له:**

**۱ــ** اقتصادي ازادۍ؛

**۲**اجتماعي ازادۍ؛

**∏ــ اجتماعي حقوق په لاندې ډول دي...**

**۱ــ** د کارکولو حق یانې د کسب او له کړاو پرته د استخدام د ټاکلو حق چې دا حــق د استراحت او ارامتیا حق په نوم هم یادیږي.

**۲ــ د اجتماعي او روغتیا ساتنې حق چې عبارت دي له:** اجتماعي او رغتیایي بیمــه، وړیا درملنه، د مور او ماشوم د ساتنې تضمین، د عمومي مصیبتونو د قربانیانو ساتنه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو وګړو ساتنه چې د هيوا د ساتنې په جګــړه کــې يــې ونــډه اخيســتي وي او د شهيدانود کورنيو ساتنې حقوق دي.

**۳ـ د زده کړې او روزنې حق عبارت دي له:** په څوو مرحلو کې په وړيا توګه زده کړه، تر مالومې مرحل پورې د زده کړې جبري کول، د عرفاني چوپړتياوو په وړاندې کولــو سره لکه: کتابتون او په عمومي ډول د اطلاعاتي وسايلو د اختراعاتو او پلټنو هڅونې.

**۴ـ** په ټولنو اواتحاديې جوړونه کې د شموليت حق د اتحاديې ونډه داده چې د غړو په استازيتوب له اړوندې اداري سره خبرې وکړي.

**VIIIـ اقتصادي حقوق عبارت دي له...**

**۱ـ** د دولتي پروژو د مالکيت له پلوه د هغو دولتونو لپاره چې د فردګرايې پــه اصــولو ډډه لګوي) ملي اقتصاد ملاتړ او انحصارات منع کيږي همدا ډول د دولــت لپــاره يــو مکلفيت موجود وي، چې کافي کانونه د دولت د اتباعو د اړتياوو د پــوره کولــو لپــاره کشف او استخراج ګړي.

**۲ـ** له سوسياليستي له پلوه دولت د ټولو توليدي وســايلو څښــتن دی او خصوصــي مالکيت په کوچنيو کرنيزو ملکيتونو او صنعتي کسبونو بند وي( قيد)

**۳ـ** نشو کولای په نني قلمرو کې د بشرحقوقو ټولې لاسته راوړنې پــه بشــپړه توګــه وارزوو نو پر همدې اساس ځينو عناصرو ته يې په لاندې ډول اشاره کوو.

**۱ـ** کلاسيکي برابروالی يوازې قانوني او رسمي بڼه لري، له کومه ځايه چې ټول وګړي ورڅخه ګټه نشي اخيستلای او برابروالی يې عملاً د لاسرسي وړ ندی، د واقعيــت لــه پلوه برابروالی يوازې يو شعار دی ځکه که داسې نه وای نو په سويلي افريقا او متحده ايالاتو کې به نژادي تبعيض او په اروپا کې به د ښځو له حقوقو څخــه نــاوړه ګټــه نــه اخيستل کيده.

**۳ـ** له کلاسيکي پلوه رسمي ازادۍ کومه مثبته پايله نلري يــوازينی ارزښــت يــې د دولت د منفي ليدنې په مخينوي او له هغو څخه ناوړه ګټه نــه اخيســتل دي، يــوازې قدرت لرونکي وګړي کولای شي دا کار عملي کړي. دا ډول ازادۍ ددې سبب ګرځــي چې موجوده قوه نوره هم قوي او وګړي شتمن کړي. په پايله کې هغه دولتونه چې په فردګرايې ډډه لګوي خو سوسياليستي اواجتماعي مفکورې کاروي او ګټــه ورڅخــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخلي نو دا د نويو حقوقو اړوند نوي تصاميم او پريکړې رامينځته کوي دولت هم په خپله نوې څېره کې له بشرحقوقو سره منفي چلند يا سلوک کوي.
که څه دولت پدې مجبور دي چې د ترلاسه کولو لپاره يې پوره هڅې او کوښښونه وکړي خو دا يوازې يو سياسي مکلفيت دی.

**بېلګه:** فرد ددې توان لري چې دولت ديته مجبور کړي څو خپله روغتيا او د اجتماعي بيمې ساتنې دنده ترسره کړي، په همدې ډول فرد حق نلري چې د يوشي ترلاسه کولو په لاره کې چې اداره ورسره موافقه نه وي له دې ادارې څخه استازيتوب وکړي، د بوديجې اړوند تصاميم چې رايه اچوونکي د مالياتو تسليمولو ته مجبور وي د فرد له مسوليت څخه بهر دی دولت تر وروستنې کچې هڅه او کوښښ کوي چې د ډېرې ماليې له اخيستلو څخه لاس واخلي ځکه دا وېره چې ګواکې رايه اچوونکي به خواشيني او ستړي شي، سوسياليستي هيوادونه يوازې د مادي حقوقو څخه ساتنه کوي او له معنوي ازاديو اوحقوقو څخه مخ اړوي، دا امر ددولت او افرادو ترمينځ په اړيکو کې د ترينګلتيا سبب ګرځي، ځکه په افرادو کې دا احساس پيداکيږي چې هغوی د معنوي ازادۍ له ګټې اخيستنې څخه محروميږي.
پداسې حال کې چې هغه معنوي ازادۍ او حقوق کټ مټ د مادي ازادۍ په څېر ارزښتمن دي.

۴ ــ په تشه شعاري بڼه د بشرحقوق اعلان په خلکو هيڅ اغيز نلري، په همدې سره د هغوی لپاره قوانين رامينځته شول چې په ډاډ توګه يې تضمينوي.

**بيلګه:** کله چې قانون د يوې شخصي ازادۍ ځای په ږآم کې نيسي نو د قانوني بند لپاره يې شرايط ټاکلي دي، يا کله چې قانون د خصوصي ژوند درناوی په پام کې نيسي نو د هغو د کورنيو او اشخاصو د پلټنې لپاره ځينې محدوديتونه رامينځته کوي.

**۵ــ** هغه حقوق او ازادي چې قوانينو او کنوانسينونو کې ځای پر ځای کړای شوي دي او پداسې توګه ورته ځای ورکړل شوی چې د قوانينو ټولې برخې په پام کې نيسي د حقوقو د پلي کولو د ارادې نشتون د هغوی د وراثت په علمي او عملي برخه کې بې توجه يې څرګندوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بېلګه:** علمي او عملي وراثت، د جنايي قانون اړوند ارونه يا اصـول چـې لـه نړيوالـو کنوانسيونو څخه کورنيو قوانينو ته اجازه ورکوي بايد په لاندې بڼه وي.
د قانونيت اصل، د مناسب قانون پلي کول، د انسانانو حقوق چې د جزا قانون له خـوا ملاتړ کيږي، د جزا ځانګړ تياوې، له ځوانانو سره چلند، عادلانه محکمه، فرد بايـد پـه جرم سره يوځل محاکمه شي، د محکمې په اشتباه سره د تاوان ورکولو حق، له بندي سره قانوني چلند د سلوک کچه محدوديږي.
۶ـ د نړيوالو کنوانسيونو هوډ او اراده دا وه چې د بشرحقوقو په ملاتـړ سـره ورتـه نړيواله صبغه ورکړي خو د ملي حاکميت د اصل په پآم کې نيولو سره په کورنيو چارو کې د بهرنيو هيوادونو د لاسوهنې مخنيوی او د داسې يوې نړيوالې وسـيلې کمېټـت چې د دولت له لوري د بشرحقوقو او بشري ازاديو اساسي ازادی تضمينوي.
دا ډول ملاتړ هيڅکله له برياليتوب سره نشي يوځای کيـدای، د بشـرحقوقو ملاتـړ اروپايي تړون په اوسني وخت کې تر ټولو پرمختللی کنوانسيون ګڼل کيږي، که څـه هم نه په دې ندي توانېدلي چې دا حق په يوې رسميت پېژندل شوې چـوکی بانـدې کينوي، چې قانوني اقدمات د بشرحقوقو تر ځانګړ تياوو يا محکمې پورې تعقيب کړي، فرد کولای شي خپل شکايتونه د بشري حقوقو ځانګړې اروپايي کميټې ته وسـپاري ترڅو هغه شکايت محکمې ته وښايي.
د اروپايي هيوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو اړوند کمېټه دې ډول قضيو او شکايتونو ته ځانګړې شوېده.
په ۱۹۵۹ او ۱۹۵۶ کلونو کې يوازې نهه قضيې محکمې ته راجـع شـوې دي خـو پـه ۱۹۵۵ـــــ ۱۹۶۹ کلونو کې کمېټې ۳۸۰۰ قضې وپلټلې او په اړه يې قضاوت وشو چـې له ډلې څخه يې ۳۶۰۰ ونه منل شوې او يوازې پر ۲۰۰ قضيو باندې يې بحث وشو.
اروپايي کميټه د سنتي، اقتصادي او اجتماعي حقوقو په پرتله د بهر ازاديو څخـه پـه ډېر کمه کچه ملاتړ کوي. همدا ډول د دولت د حاکميت اصل چـې پـه اسـنادو کـې ترتيب شوی او دا د تړون په څېر پکـاروړل کيـږي او ددې تـاثيرات يـې پېچلـې او محدودې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**2: په اســلام کې حقوق:** حق په عربي ژبه او فقه ړکبهغه څه ته وايي چې په ديــن کې د څښتن تعالی له لوري انسان او د انسان له لورې ټولو خلکو ته ورکړل شوي وي.

**حق څلور برخې لري**

**۱ــ** له پيسو سره د پرتله کولو وړ، له ګټې سره د يو ثابت بدن پرتله لکه په يوه کرايي کور کې اوسېدل، يا د يو عمل څخه ځان ساتل، د خاوند له اجازې پرته کورته څــوک راوستل.

**۲ــ** هرڅوک حق لري که انسان وي که څښتن تعالی وي.

**۳ــ** ټول وګړي يو پر بل حق لري. ( لکه د دندې ترسره کول).دا حقوق لکه: په ښځې د خاوند او په خاوند د ښځې د پيروي حق، په شتمنو وګړو د خلکو حق، د زادۍ حق.

**۴ــ** د حق قانونيت د مقننه قوې له خوا د تصويب په مانا سره دی، حق ددې ويشنو پر بنسټ توپير لري او له هماغې مخې ويشل کيدای شي.

**الف ــ مجرد او مشخص حق**

**۱ــ** مشخص حق هغه حق ته ويل کيــږي چــې يوځــای موجــود وي او خــارجي بڼــه پيداکړای شي.

دغه حقوقعبارت دي له: له شيانوڅخه د ګټې اخيستنې ، د طلاق او د مجازاتو حق، د پلار له خوا د بچيانو ملاتړ او طبي حقوق لکه: د ژوند او برابرۍ حق، له غير مالي پلوه د زيان جبران او د ا جبران بايد په پيسو وشي لکه: د مجازاتو اوطلاقو حق او يا امکان لري چې په پيسو جبران نشي.

۲ ــ مجرد حق هغه حق ته ويل کيږي چې په يو معين ځای کې موجود خو مشخص نه وي.

ډاکټر ابوسينا ددې حق اړوند خورا ډېر مثالونه وړاندې کړي دي لکه:

د غوښتنې حق، د تړون حق، د قسم حق، سياسي حقوق، پــه عامــه تصــدي کــې د کارحق، کلتوري حق لکه: د کتاب ليکلو او اختراع حق او داسې نور............

فقها دا مجرد حق د ملکيت په توګه ګڼي ځکه هغه په داسې شيانو محدودوي چــې د ترلاسه کولو وړ او د خلکو په وړاندې ارزښتمن وي په همدې سره امکــان لــري چــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجرد حقوق له مالي او غیر مالي چې د زیان جبران یې نه وي شوی نو مړي ته یې نه وړل کیږي.

**ب ـ قطعي او نسبي حقوق**

قطعي حق په بشپړه توګه روښانه او څرګند دی، او سرچینې ته اړتیا نلري لکه: د روژې په مبارکې میاشت کې روژه نیونې ورځې یا د یو محصول ارزښت.

۲ـ نسبي حقوق د روښانتیا او تشریح لپاره یوې سرچینې ته اړتیا لري او دا سرچینه یې د مثبتو او منفي قطبونو ترمینځ موجوده وي، لکه د یو ماشوم د پلار مناسبه دنده چې د هغوی د ډوډۍ او جامو پیداکولو وسیله ده.

یوه میرمن باید په ډیرې درناوي پریښودل شي ( طلاق شي).

ای محمده! ښنه پرځای کړه، په خواخوږۍ سپارښتنه وکړه او له ناپوهانو مخ واړوه.

**کفارت:** لسو بیوزلو افرادو ته په اوسط ډول خواړه ورکول او اندازه یې دومره وي چې بیوزله پرې خپله ښځه او بچې تغذیه کړي.

**ج: د خدای ج او بنده ګانو حق( حق الله او حق العبد):**

حق الله د یوې ډلې د حق په مانا ده، ځینې ددې لپاره په حق الله نومول کیږي چې د درناوي وړ وګرځي ددې سربیره اشخاص هم موجود دي لکه:

نوي پیداشوي او ماشومان چې له خپلو حقوقو څخه ساتنه نشي کولای نو لازمه ده چې د هغوی حقوق د خدای د حق په نوم ملاتړشي.

**فقها حقوق په څلور برخو ویشي**

۱ـ د خدای ج لپاره مشخص حق؛

۲ـ د انسانانو لپاره مشخص حق؛

۳ـ دواړه حقوق یو له بل سره اړیکه لري خو د خدای حق غوره والی لري.

۴ـ دواړه حقوق یو له بل سره اړیکه لري خو د بنده حق غوره والی لري لکه: مجازات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم او څلورم ډولونه د حق الله او حق العبـد ګـډ جوړښـت دی چـې د دوه اړخیزه یا متقابل حق په نوم یادیږي.

د ژوند کولو حق، عقل، له شتمنۍ څخه ملاتـړ او لـه وېـرې څخـه روغتیـا او ازادي( پیسې اوملکیت) حق، له دې پلوه حق الله ددې امانتونو سـاتونکی دی پداسې حال کې چې حق العبد او حق الله د هماغو ګټو ساتنه کوي.

ددې دوه اړخیز حق په پلټلو کې باید هڅه وشي او دا مالوم شي چې د کوم یو غوره والی وړاندې او یا لومړیتوب لري.

که چیرې د خدای حق (حق الله) غوره وو انسانان حق نلري چـې تـرې نـاوړه ګټه پورته کړي دغه راز حق نلري چې پدې برخه کې خپله روغتیا او ژوند پـه خطر کې واچوي او یا خپلې پیسې بیځایه ولګوي.

**له دې سره سم حقوق په دوه بڼو (شکل) دي**

**۱ـ** د خدای غوره حق چې د حق الله په نوم یادیږي.

**۲ـ** د بنده غوره حق چې د حق العبد په نوم یادیږي. لکه فرض عبـادت(لمونځ او روژه).

**ب ـ** د ټولنې د ساتنې په مانا؛

**ج ـ** د هغو افرادو د حقوقو د ساتنې په مانا ده چې پخپله د خپلو حقوقو ساتنه نشي کولای؛

حنفي مذهبي حق الله په اته وو مقیدو برخو ویشي:

**۱ـ** د عبادت ځانګړي اعمال ــــ لمونځ، ذکات او حج هغه دندې دي چې دینـي احکامو د ټولنې لپاره ضروري ګڼلي دي.

**۲ ـ** ځانګړي مجازات لکه ــــ زنا، غلا او د الکولي مشروباتو څښل چې د ټولنې د ساتنې لپاره ترسره کیږي.

**۳ـ** محدود مجازات لکه ــــ له میراث څخه قاتل بې برخې کول، دا ددې لپـاره محدود دي چې قاتل ته مثبته جزا ورنه کړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴ ـ د هغو حقوقو لپاره چې د مجازاتو او عباداتو ترمينځ واقــع دي لکــه ــــ کفاره يانې د غيرقصدي قتل د ديت ورکول يا په روژه خوړلــو يــا د قســم پــه ماتولو د ديت ورکول دي.**

**چې پدې سره په انسان کې د عبادت يو ډول احساس رامينځته کيــږي ځکــه هغه د خدای د اوامرو په توګه ګڼل کيږي او دا امر په ځای کيږي په عين وخت په هغوی کې يو ډول د د تقبيح احساس پيداکيږي، ځکه د هغــوی ارتکــاب د خدای تعالی له اوامرو څخه سرغړونه او ورسره سمه ګناه ګڼل کيږي.**

**۵ـ د عباداتو په ځينو اعمالو کې يو مرستندويه احســاس موجــود وي. لکــه د روژې خوړلو کفاره، دا هم يو ډول عبادت دی ځکه انسانان خدايتعال ته نږدې کوي او له نورو سره د مرستې مانا هم لري.**

**۶ـ هغه حکم چې د عبادت د اعمــالو احســاس پکــې وي لکــه عشــر چــې د مسلمانانو په کرنيزو ځمکو يو ډول ماليه وي.**

**۷ ـ ښکاره حق لکه د شتمنۍ پينځمه برخه يا هغه ګټور د اړتيا تــوکي چــې د ځمکې لاندې پيداکيږي چې د ټولو د هوساينې په لاره کې ولګول شي پداسې حال کې چې د پيداشوې خزانې ⅘ برخه د هغه د خاوند حق دی.**

**د خدای تعالی د حقوقو د پولو ټاکنه د حنفي مذهبو له لوري پدې بڼو عبــادت او مجازات په عين وخت کې د خدايتعالی او ټولنې د حقوقــو تــرمينځ د پولــو ټاکل هم دي، دغه راز د ټولنې حقوق بيلابيل او خورا پراخه بڼه لري او دا تــول بايد په پام کې ونيول شي د ټولنې اړتياوې بايد تجديد نظر (بيا کتل) شي.**

**دا ډله حقوق په دوه برخو ويشل کيږي، او دې قراني ايت ته په پام سره چې:**

**( که چيرې تاسو د انسانانو ترمينځ پريکړه کوئ نو عادلانه پريکړه وکړئ)**

**دا ډله وايي د خلکو ترمينځ د پريکړې پر وخت حقوقو ته په دوه لانــدنيو ډلــو کې ځای ورکول کيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ــ دا چې حقوق د ټولو انسانانو لپاره وي نو نبايد ځانګړو خلکو ته په پام کــې ونيول شي برعکس بايد دټول اړتياوې په پام کې ونيول شــي دغــه حقــوق د خدايي مجازاتو او حقوقو په نوم يادېږي.

د بيلګې په توګه: پدې حقوقو کې د غلو، زناکوونکو او د وصيت او ملکيت پــه مسايلو کې د داوري مجازات شامل دي.

۲ ـ د انسان يا بشر حقوق د خصوصي حقوقو په نوم يادېږي. لکــه خصوصــي حق، ټول هغه انسانان چې دحق څخه برخمن دي کولای شي هغه ترلاســه يــا هم ترې تير شي ياني دا ددې واک لري چې له خپلــو حقوقــو ســره هــر ډول معامله وغواړي کولای شي.

**د بېلګې په توګه:** ديت دا د وينې ارزښت هغه اندازه ده چې د يو چا کورنۍ ته ورکول کيږي چې د بل په ذريعه وژل شوی وي هغه څوک چې دا حق لري نــو ددې صلاحيت هم لري چې دا اندازه قيمت ومني او يا هــم پخپلــې غوښــتنې سره له دې حق څخه تير شي.

ددې حقوقو په زياتوالي سره ځيني شيان موجود دي لکه هغه مجــازات چــې ورسره حق الله او حق العبد رامينځته کيږي، له مجازاتو څخه يوه عمومي ګټــه ترلاسه کيږي چې له يوې خوا د ژوند ساتنه کوي او له بلــې خــوا د قاتــل پــه وړاندې د مقتول د کورنۍ غوسه او قهر له مينځــه وړي دغــه راز د خصوصــي حقوقو په اړه نشو کولای دا ډول فکر وکړو چې ګواکې ټولنه پکــې کــوم حــق نلري. برعکس پداسې حالاتو کې لکه: جګړه، بحران، ناروغۍ او سيلاب ځيلــي هم له ځينو حقوقو څخه برخمن دي.

له دې سره سم د خصوصي حقوقو خاوند دا حق نلري چــې هــر ډول يــې زړه وغواړي ګټه ترې پورته کړي.

په ريښتني توګه له دوه لارو څخه يو ټولنه عمومي حقوق لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱ــ څه ډول چې څښتن تعالی د خصوصي حق لرونکي لپــاره د هغــه شخصــي ګټې هم په پام کې نیولې دي په هماغه ډول یې د هغوی د ټولنې ګټو تــه هــم پاملرنه کړېده، پردې اساس خدای تعالی انسان ددې لپاره له بیځایه لګښــتونو څخه منع کړی چې زیان یې ټولې ټولنې ته ونه رسیږي. ځکه دا پیسې څښتن تعالی نورو ته د ذکات او عشر لپاره ځانګړې کړي دي.**

**خدایتعالی پخپل کتاب کې فرمایلي دي:**

**ژباړه: شتمنۍ مو په ناسمه توګه مه کاروئ کومې پیسې چــې خــدایتعالی پــه واک درکړي هغه وساتئ، هغوی چې ورباندې سره او سپین زر پیري او د خدای په لاره کې یې نه لګوي نو هغوی ته به په راتلونکي کــې یــوه دردنــاک زیــری ورکړل شي.**

**۲ــ د خصوصي حقوقو خاوند پداسې ډول باید له خپلو حقوقوڅخه ګټه واخلي او ورسره معامله وکړي چې نورو ته پکې زیان ونه رسیږي، او ټولنه هم دا حــق لري چې داسې اشخاص چې ګټه اخیستنه یې ټولنې ته زیان اړوي منع کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د حق الله او حق العبد ځانګړتیاوې

## حق الله ځانګړتیاوې:

۱ـ له هغه ځخه څوک انصراف او سترګې نشي پټولای؛
۲ـ ټوله مسلمانان په ځانګړې توګه د اسلامي فقهې عسکران او پیروان مجبور دي چې د ساتنه یې وکړي.
۳ـ امام ددې موکل دی چې عمومي مجازات تحمیل کړي.
۴ـ که د حق الله په وړاندې جرم یو ډول او په پرلپسې توګه وي نو مجازات هم باید مجرم ته په یو ډول ورکړل شي، خو که جرم په پرلپسې توګه او یو ډول نه وي نوباید ورته د هر جرم جلا سزا ورکړل شي.
۵ـ ددې حق مجازات وارثانو ته نه لیږدول کیږي پدې مانا که قاتل قتل وکـړي نو نباید وارثان یې د جرم سزا ووینې.
۶ـ ټول خدایي حقوق د بښلو وړ کیدای شي، ځکه چې لـه دې لـوري خـدای تعالی ته هیڅ زیان نشي رسیدلای.
**یادونه:** د حق العبد لپاره مجازات ممکن ځانګړي، جریمه یاهم د ضـمانت پـه ډول وي.

### د حق العبد ځانګړتیاووې

۱ـ کیدای شي په حق العبد کې انصراف رامینځته او ونه غوښتل شي.
۲ـ ددې حق مجازات پخپله د حق لرونکي له خوا ترسره کیږي بل شخص لـه هغه ځخه د انصراف حق نلري.
۳ـ ددې حق مجازات وارثانوته لیږدول کیږي له دې خبرې ځخـه موخـه داده چې د مقتول وارثان خپل د قاتل له وارثانو ځخه غوښتلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵ ــ په شتمنیو اوپورونو کې تاکل شوی حق**

په شتمنۍ کې حق پدې مانا چې یو یې د داین او بل د مدیون په شکل نیول کیږي، په مالي پورونوکې شخصي حق، لکه: کرایي کور یا غیرمالي لکه: قضایي لمونځ دی. څوک چې مدیون دی باید دا حق په مطلق ډول سره ادا کړي.

**مثلآ:** د کور کرایه به هرومرو ورکوي، او قضا شوی لمونځ به په قضایي ډول ادا کوي یا ددې امکان هم شته چې په منفي ډول ادا شي لکه: د یوې ودانۍ د جوړول منځپانګه.

ددې حقوقو د ادا کولو ډول د مدیون د ذهني توان سره مناسب او حالت او ماهیت سره سم توپیر کوي.

**دا دوه ډوله حقوق ځانته ځانګړي قوانین لري**

۱ــ په پور(قرض) کې حق غوښتلو ته اړتیا نشته پداسې حال کې چې په شتمنیو کې حق غوښتلوته اړتیا نشته.

۲ــ کېدای شي په پورونو کې حق وځنډول شي او یا ورځخه صرف نظر راشي خو په شتمنۍ نه حق ځنډول کیدای شي اونه هم ترې تیریدل کیږي.

۳: کله چې د شتمنۍ خاوند مړ کیږي، نو حق پر شتمنۍ ساقطیږي(غورځول ).

**بیلګه:** کله چې د یو کور خاوند یو قرار داد له مخې خپل کور پلوري نو که چیرې د کور سپارلو څخه وړاندې د کور خاوند مړ شي نود کور پلورنې قرارداد قانونآ فسخه کیږي خو دپور په حق کې د قرارداد اعتبار پخپل ځای پاتې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هـــ ـ قانوني او ديني حقوق**
که څه هم ديني حقوق له ديني احکامو سره سم څرګند او مالوميږي خو د قوانينو پر بنسټ نشي ثابيتديلای ، لکه لمونځ او حج، قانوني حق هم د ديني احکامو سره سـم مشخص شوي هم د قوانينو پر بنسټ ثابيتديلای شي.

## په اسلام کې خپلواکي:

بنسټګرو ديني قضاوت د ترسره کوونکو د اعمالو په برخه کې که دنـده او کـه ټاکنه د څښتن تعالی د کلام له مخې تعريف کړی دی.
**الف:** قضاوت د يو عمل د ترسره کولو يا برعکس نه کولو په مانا دی، فاعل د يو خپلواک انسان په توګه حق لري چې يوه عمل ترسره او يايې له ترســره کولــو تير شي.
**ب ـ** ټوله ايز اصل دادی که چيرې کوم روښآنه امر موجود نه وي پدې اړه چــې انسان ازاد دی ترڅو يو عمل ترسره کړي يا برعکس ونکړي، که کوم ايت يا هم امر نه وي موجود نو جرم ورسره هم نه شته او نه هم سزا موجوديدلای شي.
څښتن تعالی فرمايي: ترڅو چې زه پيغمبر درونه ليږم نو مجازات بـه مـو هــم نکړم په اساسي اصولو کې دا اصل موجود دی.
نود ايت يا امر څخه وړاندې د فاعل د اعمالو په وړاندې هيڅ ډول قضاوت نشي ترسره کيدای دغه راز ( د شيانو او اعمالو سرچينه ازادي ګڼــل کيــږي) دا دوه اصول پدې مانا دي، وړاندې له دې چې کوم عمل ته جرم وويل شــي بايــد يــو ايت يا امر هغه په روښانه ډول سره منع کړي.
**د ـ** د خپلواکی په اړه د دين نظريه څښتن تعالی ته راجع کيږي.
چې د يو عمل د کولو يا هم نه کولو په برخه ورکړل شــوی وي، چــې ددې ډول اجازه ويونکی وي ممکن داسې يو عمل نه سپيڅلی او نــه هــم د منلــو وړ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پردې بنسټ که خدايتعالى اجازه نه وې ورکړي نو د يو عمـل د ترسـره کولـو لپاره ازادي نشته ياپه بل ډول نور دهغه عمل د ترسره کول د فاعل لـه لـوري منع دی.

**د ازادو اعمالو ډولونه**

۱ـ امام غزالي خپل ځان ته په پاملرنې سـره د اعمـالو کلمـه پـه درې برخـو ويشي:

**الف:** د سرچينې په پلټلو سره د منښت يا نه منښت لپاره د خدايتعالى له لوري کوم تقنيني او مشخص امر وجود نلري.

ب ـ دين انسان ته د يو عمل ترسره کولو يا هم نه کولـو د ټـاکلو حـق نـه دی ورکړی.

ج ـ دين د ټاکلو يا نه ټاکلو په برخه کې څه ندي ويلي خو دا نښانې وجود لري چې د يو عمل ترسره کول يا نه کول يو ډول دي چې فاعـل يـې بايـد پـه اړه تصميم ونيسي.

له دې سره سم امام غزالي ازاد عمل په دوه برخو ويشي.

دين د يو عمل د ترسره کولو يا برعکس واک فاعل ته ورکړی، دين د يو عمـل کولو يا نه کولو په اړه روښانه حکم نه دی صادر کړی.

۲ـ د يو دليل په توګه چې د يو عمل ترسـره کولـو پـه برخـه کـې پوښـتنه رامينځته کيږي:

السهتي (عالم) ازاد عمل په دريو برخو ويشلی دی:

۱ـ د عمل د مخنيوي لپاره دليل؛

۲ـ د عمل ترسره کولو لپاره دليل؛

۳ـ د يو عمل ترسره کولو يا نه کولو څخه وړاندې دليل وجود نلري او ترسـره کوونکی يې په ترسره کولو کې ازاد وي، پدې مانا چې خدايتعالى نه هغه ته امر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي چې ترسره يې کړي او نه د برعکس لپاره بلکې هغه يې ازاد پـرې ايښـي دی او کولای شي پخپله خوښه يو عمل ترسره يا هم ترې تير شي.

۳ـــ السهتي د ازادۍ ډولونو او ټوله ايزتوب ته په پـام سـره د ازاد عمـل پـه څلورو برخو په لاندې توګه نظر ورکوي.

۱ـ هغه ځيزونه چې يو ډول ازاد او په بشپړه توګه د اړتيا وړ وي لکـه: خـوړل، څښل چې کاملاً د اړتيا وړ دي خو که چيرې ونه شي نو انسان ته زيان رسوي.

۲ـ هغه شيان چې يوډول ازاد خو په بشپړه توګه د اړتيا وړ وي خو دومره اړين او ضروري نه وي؛ لکه زيات خوراک، او اضافي جامې پيرل او داسې نور ..........

۳ ـ هغه شيان يو ډول ازاد خو په بشپړه توګه منع وي، لکه په قسم کولو اخته، د بچيانو په وړاندې د ژبې ناوړه کارول.

که څه هم د سرچينې له مخې چې دوی ته نه امر شوی او نه هـم تـرې منـع کړای شوي، ترسره کول يې ازاد او ځان پرې بلدول منع دي.

۴ ـ هغه شيان چې يو ډول ازاد خو په بشپړه توګه کرکجن وي لکه: د ويونکـو مارغانو غږ ته غوږ نيول، د تفريح له ځايونو څخه تاويدل که څه هم دغه اعمال د سرچينې له مخې ازاد دي خو هغه کرکجن وي کله چې د اختـه کيـدو بنـه ځانته خپله کړي.

۴ ـ الغفاري د ازادۍ عمومي او تصادفي کيدو ته په پآم سره اعمال په عمـومي او نسبي ازادي ويشي.

د هغه په وينا امکان لري چې فاعل په بشپړه توګه د يو عمل په ترسـره کولـو کې ازاد وي او يا دا چې دا ازادۍ ممکن چې ځانګړی علت ولري او فاعل د هغه علت په موجوديت سره ازاد وي.

۵ـــ د ازادۍ سرچينې ته په پام سره داسې ويشنې هـم موجـودې وي چـې ورسره سم ازادي يا د خدايتعال يا هم د بنده له خوا ورکړل شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ـــ خصوصیت او عمومیت ته په پام ســره د ازادۍ عملیــه پــه خصوصــي او عمومي ازادۍ ویشل شویده، د خدایتعالی عمومي اجازه د عمومي ازادۍ سبب ګرځي، لکه هغه کار چې خدایتعالی یې د ترسره کولو اجازه ورکړې وي.

او د خدایتعالی خصوصي اجازه د خصوصي ازادۍ سبب ګرځي لکه کوم شخص چې یوې ښځې ته قرانکریم په مهر کې ورکړي، نه د واده د پیسو په توګه.

۷ـ د ازادۍ علت ته په پام سره د استعمال او لګښــت ازادۍ موجــودې وي، د لګښت ازادۍ پدې مانا ده چې که مقنني منصف هئیت (خدایتعالی) او که د بل شخص له لوري د یو شي د مصرفولو، لکه: ښــکار یــا د اوبــو اســتعمال اجــازه واخیستل شي.

د استعمال ازادي ځینو شیانو استعمال یــا اســتفاده لکــه جماعــت، عمــومي پارکونه، په کتابتون کــې د کتــاب لوســتلو پــه مانــا ده چــې مقننــه هئیــت (خدایتعالی) له خوا ورته ورکړل شوي دي.

**د انسان د حقوقو او ازادیو ترمینځ توپیر**

پدې برخه کې له انسان سره دا پوښتنه پیداکیږي چې دا د انسان لــه حقوقــو سره یو ډول که د حقوقو یوه برخه ده له حقوقو سره توپیر لري؟

دا مسئله مخکې له مخکې د قوانینو په موضوع کې مطرح شوېده، ځینو قانون جووړونکو ویلي چې عمومي ازادي عامه حقوق دي هیڅوک هغــه پــه یــوازې توګه نشي درلودلای پدې ترتیب د ازادي مانا له حقوقو سره په بشــپړه توګــه مطابقت نه کوي همدا ډول ازاد هغه وخت د حق مانا مومي چې په وړاندې یــې تیرى وشي.

د قانون سره سه ازادۍ د ټولو وګړو لپاره د یو عمل ترسره کولو اجازې په مانــا دی، که چیرې پدې ازادۍ تیرى وشي نو قانوني حق منل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دبیلګې په توګه:** د یوشي د خاوند کیدو واک ته ازادي ویل کیږي خو ملکیت پخپل ذات کې یو حق دی له دې سره سم واک د حق ترلاسه کولو توان ته ویل کیږي.

مشاجره د محدودې یا پراخې پکار وړنې، مشاجرې د انسان اساسي حقوق او صلاحیتونه چې پخپلې مانا سره حقوق دي. د حق او دندې تړاو ددې امر لامل ګرځي چې قانون جوړونکي د واک څخه د حق نوم لیرې کړي.

اساساً ستونزه دلته ده چې ایا حق یو قانوني شی دی او قانون هم ورڅخه ملاتړ کوي؟ ایا حق یو اخلاقي او طبیعي شی دی او قانوني ملاتړ لري؟

په اسلامي فقه کې لیدل کیږي چې د جواز اصلاحات او ازادی په زیاته کچه یو د بل پرځای کارول کیږي له دې سره سم ددې په ناسمې پکاروړنې سره اصلاحات له ګډوډی سره مخ کیږي.

**د حق کلمه په زیاتو مواردو کې کارول کیږي**

**الف:** دا کلمه ددې لپاره کارول کیږي څو وښایي چې یو فرد د نورو په وړاندې کوم مکلفیتونه لري یا په یاد ولرئ لکه د اتباعو حق په حکمرانانو او برعکس د حکمرانانو پر اتباعو.

**ب:** دا کلمه په کورنیو اړیکو کې د شخصي حقوقو اړوند کارول کیږي لکه په خاوند د میرمنې اود میرمنې په خاوند حق.

**ج:** دغه راز دا کلمه د ثابتو شیانو یا اوامرو لپاره چې باید ترسره شي کارول کیږي لکه چې څښتن تعالی فرمایي: دمومنانو مرسته پر مونږ واجب ګرځیدلې ده.

**د:** دا کلمه د مالي حقوقو لپاره هم کارول کیږي، خدایتعال فرمایي: اود هغه په شتمنی کې د بیوزلانو او ګدایانو حق منل شوی دی.

**هـ ـ** دغه کلمه د انساني او اخلاقي اعمالو لپاره لکه د ورورولی او ملګرتیا حقوق او د ګاونډیانو حقوقو لپاره کارول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وـ دا کلمه د عمومي حقوقو تر عنوان لاندې چې د ټولـو وګـړو دنـده هـم ده کارول کیږي.

الغرافي د حق د مرحلو ترمینځ یوپیر کوي اوداسې مثال راوړي:

۱ـ که چیرې مسلمانانو په جګړه کې غنیمتونه په لاس راوړي نو کیدای شي دا حق ولري ترڅو د خپل حق غوښتنه وکړي.

۲ـ که څوک غواړي چې په یو شریک ملکیت کې خپله برخه وپلوري نو دا حق هم لري چې ټول ملکیت وپلوري.

۳ـ بیوزلان او اړمند حق لري چې له خپلې ګټې څخه په بیت المال کـې ګټـه پورته کړي.

ډاکټر سهنوري دا پایله مومي چې الغرافي د درې حالتونو ترمیځ توپیر کړی... او هغوی ته یې د جواز، حق او بین البین نومونه ورکړي دي.

۱ـ داسې حالت چې یو شخص پکې د یو شي د مالک کیدو توان لکه: د یو نوکر یا قچر پیداکول، واده کول یا د خپلو غلام شویو خپلوانو د اخیستلو توان چـې دا یو جواز ګڼل کیږي.

خو حق ورته نشو ویلای.

۲ـ داسې حالت چې د یو دلیل په راوړلو سره د یو شي خاوند وګرځي لکه: پـه یوه کوچنۍ ځمکه کې ونډه، پخپل شریک باندې د خپلې ونډې پلورل دا ټـول د دلیل په درلودلو سره د شتمنۍ غوښتنې نشي کولای او دا درجـه د حـق او جواز ترمینځ واقع ده.

ډاکټر سنهوري زیاته کړه چې د انسان ملکیت یوازې جواز دی یا هغه واک چې مقننه هئیت یې ملاتړ کوي او له دې لارې هغه تصرف کولای شي که هغـه پـه رښتیا سره هم یو شی تصرف او استعمال کړي نو دلته دغه حق مالکیـت بلـل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مالکیت او جواز ترمینځ یوه درجه وجود لري چې له جواز څخه پورته او لــه مالکیته ټیټه ده.**

**لکه: که څوک وغواړي یو کور چې خوښ یې شي وپیري نو د کــور د خاونــد د موافقې د ترلاسه کولو څخه وړاندې هغه د دې یا بل کور د تصرف په حالت کې دا شی د جواز په نوم نوموي.**

**که چېرې دې شخص د کور د مالک موافقه لاسته راوړه نو هغه پدې حالت کې کور تصرف کولای شي پدې ترتیب دا دحق په نوم یادیږي.**

**د کور د مالک د موافقې څخه وړاندې او دهغې له منلو وروسته د حق او جــواز ترمینځ مرحله ده، څرنګه چې پورته یادونه وشوه انسان دې پوهې ته رسیږي چې بیلابیلې مرحلې تیرې او په هره مرحله کې یې حالت بدلون ومومي.**

**له یوې خوا حق عبارت دی د یوشي د مالک کیدو د حقوقو څخه او له بل پلوه حق د یو موافقه شوي شي د منښت حالت ته وایي او له دریم اړخه حــق د یــو شي خاوند کیدو ته وایي.**

**د حقوقو دغه درې بنې د مقننه قوې له خوا ملاتړ کیږي دلته یوازینی ســتونزه داده چې د حق اصطلاح د لومړۍ او دویمې مرحلې اړوند نه کارول کیږي ځکه که انسان دا هر یو حق ونوموي نو په هغه صورت کې به جواز د استعمال لپــاره کوم بل مورد پاتې نشي.**

**انسان ددې مسئلې د بلې برخې په تشریح کولو کــې دېتــه اړتیــا لــري چــې تشخیص یې کړي چې ایا هغه ازادي چې د مقننه قوې له خوا ورکړل شــوې د شیانو یا اعمالو په مورد کې رښتیا ده؟**

**که ازادي په کارونو او شیانو کې ریښتني وي نو ازادي نومیږي کنه نو هغــه تــه واک ویل کیږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عامه ازادي

عامه ازادي لکه: له عمومي پارکونو او ښارونو، له ښــوونځيو، روغتــون او نــورو ځخه ګټې اخيستنې ته ويل کيږي.

دغه ازادۍ چې د مقننه قوې يا قانون جوړونکو له لوري ورکول کيږي د عامــه حقوقو په رديف کې ځای نيسي او دولت بايد له خلکو سره د هغې په ګټه اخيستنه کې مرسته وکړي.

## عامه واکونه( اختيارات)

هغه ازادۍ چې مقننه هئيت يې د ژوند په کړنو او اعمالو کې انسانانو ته ورکوي عامه واکونه ګڼل کيږي. لکه: د يو شي مالکيت، د محفلونــو جــوړول، ازادي، له يو ځای ځخه بل ځای ته د سفر کولو حق.

ټول سياسي او فرهنګي حقوق، لکه: د ټاکلو حق، د نظر ځرګندولو حق، د فکر ازادۍ او نور.... ازادي پدې مانا ده چې ټول انسانان له خپلــو حقوقــو ځخه يو ډول ګټه پورته کړي او د هر ځه ترســره کولــو واک پخپلــه ولري او ټولو ته د ګټې اخيستنې لپاره ده پــورتني عامــه اختيــارات حقوقي دي او افراد حق لري چې ګټه ورځخه واخلي.

دولت چې د خلکو استازيتو کوي نو مجبور دی چې له دې ازاديو ځخــه ملاتــړ وکړي دغه ازادۍ ټولې حقوقي دي او د حق الله يوه برخه هم ده ځکه موخه يې د ټولنې ملاتړ ده.

## دندې په اسلام کې:

خورا زياتو دلايلو ته اړتيا ترځو دندې تربحث لاندې ونيسو.

نو له همدې کبله يې ځينې برخې په لنډه توګه بيانوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ حق یا ازادي ممکن چې په ځینو حالاتو کې د یوه دنده لرونکي لپاره وي.
۲ـ پینځم قضاوت امکان لري چې په یوې موضوع باندې د حـالاتو او شـرایطو سره سم بحث وشي هغه څه چې پکې شامل وي.
۳ـ امکان لري چې مشر(حکمروا) د خپلې ازادۍ په چوکاټ کې خپل قضـاوت ته د یوې دندې په ترسره کولو یاهم نه کولو کې بدلون راولي.
دندې په ټوله کې په دوه برخو غیرمشخصې او عموي ډول باندې ویشل کیږي.
**االف: غیرې مشخصې دندې**
په عین وخت کې دنده په دوه برخو ویشل کیږي، هغه دنـدې چـې مشـخص حدود لري او هغه چې مشخص حدود نلري.
۱ـ **غیر مشخصه دنده:** انسان ته دیو دین په څېر ده، چې د ترسره کولو لپاره یې مجبور او مکلف دی.لکه: د یوشي پیسې ورکول چې پیرل کیږي، پـه لمونځ کې قرائت او داسې نور...
۲- هغه دندې چې مشخص حدود نلري پدې مانا چې انسان مجبـور دی چـې هغه ترسره کړي خو پر هغه شخص دین ( مکلفیت پکې نلري) نه دی.
لکه : ذکات، له بیوزلو سره مرسته، جهاد او داسې نور...
پدې ترتیب څوک یې چې په پوره توګه ترسره کولای شي دوه دندې لري، چې یوه یې مشخص حدود لري او بله یې مشخص حدود ونلري.
پدې ایت کې د خدایتعالی موخه هم همداده؛
ښېګڼه دېته نه ویل کیږي چې مخ د ختـیځ او لـویدیځ پـه لـور واړوئ بلکـې ښیګڼه داده چې انسان په خدای، ملایکـو، کتـابونو، قیامـت ورځ او پیغمبرانو ایمان راوړي.
پخپله خوښه او د زړه له تله له شـته خپلوانـو ،یتیمـانو، بیوزلانـو، ګـدایانو، مسافرانو او د غلامانو په ازادولو کې مرسته وکـړئ ،لمـونځ وکـړئ او ذکات ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب: عمومي دندې**

دا دندې په دوه برخو ويشل کيږي چې يوه يې دين او بله يې عمومي ده بيلګه: عمومي دنده د يو ډوب شوي شخص ژغورنه او يو وږي انسان ته ډوډۍ ورکول دي.

هغه دنده چې د دين په توګه او دين يې له ټولو وګړو څخه د ترسره کولو غوښنه کوي او په عمومي دنده کې ټولې دندې شاملې دي کـه ديـن وي که نړيوالې چارې د هغو ترسره کول ايجابوي.

عمومي دنده د دين رامينځته کوونکې دندې سره له قانوني پلوه توپير لري.

عمومي دنده مانا پخپله د دندې ترسره کول دي ځکه هغه مثبتې اغيزې لـري دا دنده دنورو هغو دندو په خلاف ده چې پکې مقننه هئيت يـوازې د فاعل په اړه بحث کوي او که چيرې دا فاعل هغه دنده پرځای نه کړي نو مقننه هئيت يې له بل چا څخه د ترسره کولو غوښتنه نکوي.

فقها پدې هوکړې نظر لري چې هرڅوک چې عمومي دنده سر ته ورسـوي نـو نور دهغې د نه ترسره کولو څخه بښل کيږي که هيڅا ترسره نه کـړه نوټول ورسره ګناهکاريږو.

هغوی دا عقيده هم لري چې دا دنده د ټولو لپاره ده څرنګه چـې پـدې الهـي کلام کې ليدل کيږي ( جنګې چارې باندې حکم شوې دي)

د روژې نيول په ټولو باندې امر شوی، ځينـې بنسـټګر پـدې انـد دي چـې د عمومي دندو ځينو برخو بشپړول د ټولنې ځينو افرادو ته متوجه وي خو پر ته له دې چې مشخصې کړای شي.

خدايتعالی فرمايي: د هغوی د عسکرو له هرې برخې څخه بايد يوازې يوه ډلـه مخکې لاړه شي ددې لپاره امکان لري چې هغوی د دين پـه اړه سـم مالومات ترلاسه کړي څو له راګرځيدو وروسته خپل خلـک هوښـيار کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د عمومي دندي برخې ډېرې دي او عموماً په ديني او دنيوي برخو ويشل کيږي**

**د دندې دينې برخې**

**۱ــ** پدې اړه پريکنده دليل وړاندې کول چې خدايتعالی د ټولــو شــيانو خــالق دی؛

**۲ــ** د ديني علم زده کړه او مطالعه ( حديث او فقه).

**۳ــ** د قران او حديث تدريس او پوهونه.

**۴ــ** زده کوونکو ته د ديني علومو تدريس.

**۵ ــ** د قضايي چارو پرمخ وړنه.

**۶ ــ** د هغو په وړاندې جهاد چې پر مسلمانانو تيری کوي.

**۷ ــ** امربالمعروف او نهی عن المنکر.

**۸ ــ** له بيوزلو مسلمانانو سره مرسته کول؛

**۹ــ** د جماعت د لمانځه تنظيم؛

**۱۰ــ** د مړي لمبول، جنازه کول، او د هغه خښول؛

**۱۱ــ** د فسار او شرارت راوړونکو عناصرو په وړاندې مبارزه؛

**د دندې دنيوي برخې**

**لکه:** په تجارت، صنعت، پيرل پيرودل، کرنې او نورو برخو کې کارول کيــږي او په نړيوالو چارو پورې هم تړلې دي پــدې برخــو کــې د خودکفــايي درجې رسېدل له ټولو اقتصادي درجو کې شــامل دي او دغــه امــر د مسلمان ملت اقتصادي خپلواکی تضمينوي.

**ج ـ د هرحق په وړاندې يو مسئوليت موجود دی**

په تير بحث کې وويل شول، کله چې دين د حقوقو په اړه تصميم نيسي نو پــه عين وخت کې هغه دندې چــې حقــوق تضــمينوي هــم تحميلــوي، وروسته د بشرحقوقو په مسئله کې دين د نورو تصفيه شويو نظامونو سره چې تش په نوم يا شعار سره د بشرحقوقو نارې وهي توپير کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دين اړوندې موضوع په ټولو اړخونو په پوهيدلو باندې غوره ده چې د حق الله او حق العبد( د خدای او بنده حقوق) اود عمومي دندو او د دين په غوښتنه قضاوتونه سره وتړو.**

**ددې دوه ډوله قضاوتونو په يوځای کولو سره د حقوقو او وجايبو اړوند د اسلام نظر په ډاګه ښکاريږي.**

**ځکه حق الله د ډلې حق او عمومي دنده د يوې ډلې دنده يا وجيبه شميرل کيږي.**

**ددې لپاره چې د موضوع تړلې برخې پکې شاملې شي نو څلور حالتونه يې په لاندې ډول بيانوو**

**۱ـ د نورو افرادو په وړاندې د يو فرد حق لکه: په خپلوانو باندې د مصرفولو حق، د ګاونډيانو په وړاندې حق، طلاق او داسې نور.... حقوق.**

**۲ـ د ډلې په وړاندې د يو فرد حق: لکه په بيت المال کې د بيوزلو حق، د مالکيت حق، د فکر او ژوندانه حق.**

**۳ـ د يو فرد په وړاندې د يوې ډلې حق: لکه د جهاد دنده، امربالمعروف نهی عن المنکر او په هغه چا د بيت المال حق چې د ذکات زيمواري يې بيوزلو ته ورکې وي.**

**۴ـ د يوې ډلې په وړاندې د بلې حق: لکه د عمومي موسساتو څخه چې دولت ته خدمت کوي.**

**دـ کيدای شي د يو فرد حق په عين وخت کې دنده هم واوسي.**

**حقوق لکه: د کار، واده، امربالمعروف نهی عن المنکرحقوق په عين وخت کې دندې هم دي، کار په ډله باندې د يو فرد حق دی چې بايد زمينه يې ورته مساعده کړي.**

**همدا ډول واده هم په يوې ډلې باندې دفرد حق دی، که چيرې هغه يې د لګښتونو توان ونلري نو بايد مرسته ورسره وشي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

امربالمعروف نهی عن المنکر هم په یوه ډله باندې د فرد حق دی چې په ترسره کولو یا برعکس کې ورسره مرسته وکړي.

هـ ـ د عمل ازادی، فرض او منع ترمینځ د قضاوت په بدلولو کې د اولـوالامر صلاحیت:

ځینې وخت له اولوالامر څخه اطاعت فرض دی ځکه خدایتعالی فرمایلي.

ای مومنانو! د خدایتعالی پیغمبر او هغوی چې ستاسو اولـو الامـر دي اطاعـت وکړئ .

۱ـ دا اطاعت باید د هغوی د مشری په محدوده کې وي؛

۲ـ دا اطاعت باید د ټولو د هوساینې لپاره وي؛

۳ـ دا طاعت نباید د خدایتعالی د اوامرو او پیغمبر اطاعت نه کولو په څیر وي.

څرنګه چې وایي: اطاعت یو په سمو او روا شیانو کې دی.

د دین رهبران د اطاعت وروستې کلمـې لـه بحـث وروسـته دې پـایلې تـه ورسیدل...

۱ـ ځینې سرغړونې دي چې د اطاعت اجازه نه ورکوي.

۲ـ فقها پدې اصل په یو نظر دي چې اولوالامر باید د کوښښ په برخـه کـې د خلکو له اطاعت څخه برخمن وي.

۳ـ د اولو الامر قضاوت بدلون باید د هغوی د دندې په محدوده کـې وي یـا د غیرمشروع او ازادو شیانو له اړه وي.

۴ـ اولوالامر باید پخپله د دین روحاني وي یا هم د کوم روحاني له لوري ورته د قضاوت حق ورکړل شوی وي که هغه خپـل نظـر را څرګنـد کـړي، قضاوت یو واجب امر نه دی کله چې اولو الامر حکم وکړي چې دهغـه له قضاوت څخه پیروي وکړئ نود هغه اطاعت واجب دی ځکـه اولـو الامر د خدایتعالی د امر په توګه رامینځته کیږي، خو که چیرې اولـو الامر د فقهې په علم کې کوښـښ کـوونکي (مجتهـد) نـه وي نـو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قضاوت حق نلـري ځکـه د هغـه قضـاوت د خـدايتعالی د قضـاوت نافرماني ده.

**۵ ـ په اسلام کې د عمومي حق او ازادۍ قوانين**

پدې برخه کې د حقوقو ټول قضاوتونه تر بحث لاندې نيول کيږي.

**۱ـ د پيدايښت د پايلې او توقف علت.**

د ديني قضاوتونو سرچينې قران او حديث دي او د امت ټولنه مقننـه قضـاوت (پيدايښت او توقف) له ډيرو دليلونو سره تړي، خو مونږ ورته په ډلـو کې ځای ورکړی دی.

د پېښېدو عوامل (فکتورونه) يا بنده او چلند يا کړنې، د حقوقو اړوند به ټولـو يو يو مثال ورکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پیدایښت علت

**الف ــ د پېښو عوامل يا بنده:**

**ولادت:** چې په وسیله يې طبعي حقوق لکه: د ژوند، مساوات او ازادۍ ډولونــه ټول هغه څه دي چې یو له بل سره اړیکه پیداکوي.

**۲ــ مرګ:** چې په وسیله يې د وراثت حق اړیکه پیدا کوي.

**۳ــ ځواکمنتیا:** چې په وسیله يې سیاسي، مالي او اجتماعي حقوق لکه: واده چې پکې یو له بل سره اړیکه پیداکوي.

**۴ــ شتمني:** چې په وسیله يې د بیوزلانو ذکات ورکولو او نورو مالي حقوق ته یو له بل سره اړیکه یا تړاو ورکول کیږي.

**۵ ــ بیوزلي:** چې په وسیله د ناهیلي شویو افرادو د هغوی حقوقو سره اړیکه په لاس راځي.

**۶ــ زړښت:** په وسیله يې د لویانو له حقوقو سره اړیکه پیداکیږي.

**۷ــ کاونډیتوب:** چې په وسیله يې د ګاونډیانو له حقوقو سره اړیکه پیداکیږي.

**ب : کړنې:** عمل حقوقي کړنې لري چې له هغه جرم څخه چې د جذابیت سبب ګرځي له دوی سره اړیکه پیداکوي.

کړنې د ځینو اړوندحقوق څرګندوي

**۱ــ** ټولې فردي کړنې لکه طلاق

**۲ــ** ټول قراردادونه یا مقولات لکه: واده، پیرل پیرودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پایښت علت:

هغه حقوق چې په بیلابیلو دلایلو پایښت مومي په دوو برخو کېږي ورته ځای ورکړل شو.

**د پیښندو عوامل**

**الف:** بنده یا پیښندو عوامل:

**۱: مرگ:** هغه حقوق دي چې علت يې ولادت او زېښت دی.

**۲ ــ شتمنی:** هغه حقوق چې علت يې بيوزلي ده:

**۳ ــ بیوزلي:** هغه حقوق چې علت يې بيوزلي ده.

پورتني درې علتونه د حق د پایښت یوه بنه ده، که چیرې علت پای ومومي نو حق هم پای ته رسیږي.

**ب:** په منفرد ډول کړنې

**۱ ــ د پور ادا کول**

**۲: د طلاق لومړنی لامل واده**

**۳: واده ــ د مور حق چې له خپل ماشوم څخه ساتنه وکړي.**

**۴ ــ له حق څخه ښښنه غوښتل که پرې ارزي.**

## د پایښت علت:

د مقننه هئیت (خدایتعالی) رحم او مهرباني ځیني وخت دا ایجابوي چې په معینو حالاتو کې د ځینو اعمالو دنده اسانه یا هم منع شي، څو هغوی لنډمهاله ازادي ومومي دغه عمل د جواز په نوم یادیږي.

جوازونه عبارت دي له:

**۱ ــ د برخمنتیا جواز**

**۲ ــ د پرې کولو جواز**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لنډمهاله جوازونو له کبله د فرد حقوق او ازادۍ تر تاثير لاندې راغلي او په
اړه به يې څو بيلګې په راتلونکي کې وړاندې شي.

**الف: د بنده يا پېښېدو عوامل**

**۱ـحمل:** دا عمل د لنډمهال لپاره د هغه چې د بدن دپرې کيدو لامل ګرځي چې
حامله وي.

**۲ ـ حيض:** د لنډې مودې لپاره د خاوند په اجماع کولو د مخنيوی لامل ګرځي.

**کړنې؛ اعمال**

**الف: لنډ مهاله بند؛**

**۲ـ تيرى**

**۳ـ د عمل ترسره کولو تحميل**

**۴ـ طبعي درملنه اوداسې نور**

**۲ــــ راکړه ورکړه**

**الف:** څوک چې پوروړی وي يا پخپل ځان حق لري نو بايد ادا يې کړي اوکه
چيرې په نورو حق يا پور لري بايد ترلاسه يې کړي.

دغه موجوده اړيکه چې د بياغوښتنې او بيا ادا کولو د مکلفيت ترمينځ دين ته
يو ريښتينی ارزښت وربښي چې د هغه موجوده قوانين تراوسه تر
بحث لاندې نه دي نيول شوي او هغه څه چې دا مکلفيت تر تاثير
لاندې راولي نو همدا د ديني عنصر ثابتوالی دی.

ب ـ مهمه داده چې غوښتونکی د خپل پور د بيرته اخيستلو حق لري او دغه
امر له دندې سره ورته والی لري.

ج ـ د بيرته اخيستنې طريقه بايد په عادلانه توګه وي پدې مانا چې هماغه د
خپل قرض اندازه پرته له کومې پلمې او زياتوالي څخه ترلاسه شي.

د ـ دين د پورغوښتونکي ته حکم کوي، چې د خپل پور په بيرته اخيستلو کې
له ښه چلند او سلوک څخه ګټه واخلي هغه نبايد په پوروړي زور

(c) ketabton.com: The Digital Library

واچوي بلکې باید انتظار وباسي څو پوروړی د خپل پور د ادا کولو
توان پيداکړي او نبايد د قرض ترلاسه کولو پروخت له خپلې خولې
څخه ناوړه او قهرجن الفاظ راوباسي.
خدايتعالی فرمايي. که يو پوروړی بيوزله وي نو بايد د پور غوښتنه ترهغه
وځنډول شي ترڅو د هغه اقتصادي توان ښه شي که چيرې له پور
څخه د ذکات په توګه تير شي نو دا به ډېر غوره کار وي.
هـ ـ دين پوروړي ته حکم کوي چې خپل پور ادا کړي له دې حقوقو څخه
لکه: د ژوند له حق څخه بايد تير شي.
ځکه دا حقوق د ځانګړو خلکو لپاره نه دي او حق الله نوميږي.
۳ـ په قانوني توګه بايد ګټه ترې واخيستل شي.
الفـ د اسلام سپيڅلي دين د بشرحقوقواو ازادۍ له پلوه يو متوازن دين دی.
که څه هم خدايتعالی انسانانو ته خورا زياتې ازادۍ او حقوق ورکړي دي خو
بشپړ نه دي، برکس د وګړو د بيلابيلو ګټو تنظيم په موخه له هغې
څخه ګټې اخيستنې په برخه کې ځينې مقررات وضع کړي دي. له
همدې لارې د اجتماعي او ځنګلي ژوند ترمينځ توپير کيږي.
ب ـ انسانان حق لري هغه حقونو چې خدايتعالی ورته ټاکلي دي. خو په قانوني
توګه بايد ترې ګټه واخلي پدې مانا چې ل خپلو حقوقو څخه بايد د
دين مخالفې لارې څخه ګټه پورته کړای شي.
ج ـ د ديني احکامو په خلاف له خپلو حقوقو څخه ګټه اخيستنه عبارت دی له
۱ـ نورو ته د زيان رسولو په موخه له حق څخه ګټه اخيستنه؛
۲ـ د يو غير قانوني ځيز ترلاسه کولو لپاره له حق څخه ګټه اخيستنه؛
۳ـ پداسې ډول له خپل حق ګټه اخيستنه چې دخپلې ګټې لپاره نورو ته زيان
رسوي.
۴ـ په ځانګړې توګه يا غير عمومي ډول له خپل حق څخه ګټه اخيستنه؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ـ په بې پروايۍ سره له خپل حق څخه ګټه اخيستل د نـورو د زيـان سـبب ګرځي؛

د ـ په کوم ډول چې د حق څخه د ګټې اخيستنې په لاره کې بيلابيل مقررات او اصول ټاکل شوي دي نو ورسره د صلاحيت لرونکو چـارواکو لپـاره هم يو شمير مقررات او قوانين ټاکل شوي دي.

د يو اسلامي هيواد اتباع له بيلابيلو اجتماعي، سياسي او طبيعي حقوقو څخـه برخمن دي نو د هغوی په وړاندې مکلف دي چې د اولو الامر اطاعـت وکړي پر دولت لازمي او اولو الامر چې د هغه په چوکـاټ کـې عمـل کوي، په بل ډول اولو الامر بايد خپلودندو د ترسـره کولـو پرمهـال د ټولنې ښېګڼې او خير په پام کې ونيسي، له اصولو اومقرراتو څخه هر ډول سرغړونې سره د اولوالامر د خپل صلاحيت څخه د نـاوړه ګټـې اخيستنې په توګه ګڼل کيږي.

## د يوځايوالی په صورت کې د حقوقو سلسله:

**الف:** د يوځايوالي په صورت کې د خدای حق؛(حق الله)

۱ـ هغه څه چې وخت ته زيان رسوي.

۲ـ هغه څه چې برابر دي (مالوم نه دي چې کوم غوره دي)

۳ـ هغه څه چې برابر نه دی.

۴ـ هغه څه چې فرقې پکې موجودې وي

بـ د يوځايوالي په صورت کې دبنده حق(حق العبد)

۱ـ ځينې د ميرمنې د نفقې په څېر وي

۲ـ ځينې وخت يو غوره ګڼل کيږي

کله چې حق الله او حق العبد سره يوځای شي نو پدې صورت کې په درې ډوله دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ خدایتعالی د یو شي د سپارلو پروخت تصمیم نیول کیږي لکه: بیوزلانو ته د مقرر یا ټاکل شوي ذکات ورکړه.

۲ـ کله چې د بنده ګانو حق سپارل کیږي نو د هغه لپاره تصمیم رامینځته کیږي.

۳ـ هغه څه چې فرقې پکې موجودې وي، څرنګه که یو شخص مړ شي چې خپل ذکات یې نه وي ورکړی او په عین وخت کې قرضدار هم وي.

**الف:** ددې لپاره چې د هغه حق لېږدول کیږي یا نه لېږدول کیږي د منلو په برخه کې یو عمومي اصل رامینځته شي نو انسان مجبور دی چې داسې قضاوتونو ته مراجعه وکړي چې د ملت په دوه برخو اجتماعي حقوقو او همبستګۍ ټینګ وي دا ډول اجرائات د هر چا حق دی د سازمانونو موجودیت لکه پولیس او ملي امنیت د هغه ارزښت نشي راټیټولای.

**ب:** قانوني او مشروع شیانوته اجازه او د غیر مشروع شیانو منع کولو تګلاره ده.

په اسلامي ټولنه کې نه یوازې خلک هڅې او کوښښونه کوي، بلکې څو څو ډلې هم پخپل وار سره پکې برخه اخلي سیاسي، اجتماعي اوفقهي بڼه هم ځانته خپلوي او خپل نظرونه له یو سازمان یافته نظر سره برابروي، دغه امر په اسلام کې په بیلابیلو ډولونو مبارزه کوي او د همدې ځانګړتیا له کبله د اسلامي امت د وجود یو فعال غړی بلل کیږي.

**ج ـ ولایت الحسبه:** دا یوه اسلامي موسسه ده او ددې لپاره جوړېږي چې د قانوني کارونو په ترسره کولو امر او له ناوړه کړنو څخه خلک منع کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د خلکو لپاره د هغوی له حقوقو څخه د ګټې اخیستنې په لاره کې یو تضمین دی، دا یو صلاحیتي مقام دی چې د چارو د قانونیت ساتنه کوي دا عنصر د عامه نظم په تامین او ساتلو کې مرسته کوي.

**د ـ عامه حقوق:** قانون هغه ځواک دی چې د افرادو د حقوقو ملاتړ کوي، ددې باوجود چې اسلام هم ورته تضمینات رامینځته کړي دي.

قانون د افرادو د حقوقو په غوښتلو کې تر ټولو وروستنۍ مرجع ده، قانون هغه ځواک دی چې د حق الله د حقوقو لکه: په عمومي توګه مجازاتو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي.

**هـ ـ د غوره قانونیت درناوی:** څرګنده ده چې په اسلام کې خدایتعالی د قانوني مقام صلاحیت لرونکی دی، دین د حق الله، بشرحقوقو، دوه اړخیزه حقوق، مالي او غیرمالي حقوق دغوره قانونیت استازیتوب کوي، نو ښکاره خبره ده چې خدایتعالی له حقوقو څخه نه تیریدنه کیږي او نه هم ورڅخه د بښنې غوښتنې حق شته او نه یې هم څوک په میراث وړلای شي.

پداسې حال کې چې په دوه اړخیزو حقوقو کې د حق الله له لوري وي او که د بنده له لوري له دواړو لورو پلوي رامینځته کوي.

**۶ـ د ساتنې حق:** په اسلامي دولت کې د ازادۍ او حقوقو د ساتنې اساسي بنسټ د دین حاکمیت دی او د ترلاسه کولو لپاره یې تضمین او د ساتنې لپاره یې ځینې محدودیتونه د اجرا لپاره وړاندې کیږي

**تضمینات عبارت دي له.**

**الف: د فرد دیني انګیزه:** دغه دیني انګیزه له داخلي تضمین څخه استازیتوب کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب: د امربالمعروف فردي اجــرا:** اسلام خپلو پيروانو ته دله ايــز مســوليتونو مانــا ورپيژني، چې نن ورځ يې دولت دغه دنده د اساسي قــانون لــه لارې ترسره کوي.

فقها د قضاوت د لومړيو سرچينو پر بنسټ( قران، حديث) کوښښ کوي، چــې که چيرې مجتهد پخپلو کارونو کې له سرچينو څخه ګټه پورته نکړي نو دا د قانون له اهليت اوموجوديت کې تخطي رامينځته کوي.

په حکومتي نظامونو او دولت په صلاحيت کې د اساسي قانون اصولو او دين له مطالعې څخه دا پايله ترلاسه کيږي چې ډيرى يې په قران او حــديث کې موجود دي، د فقهاو په اند ځيني نور يــې د صــحابه وو راشــدين خليفه ګانو له کړنو څخه تقليد شوي دي.

پر همدې بنسټ په دين کې ډيرى شيان د غوره قضاوت په هغــه رديــف کــې ځاى نيسي چې له قران او حديث څخه را اخيستل شوي وي پداسې حال کې چې په نني قضاوتونو کې غوره قضاوت خپــل ځــاى قــانوني قضاوت ته پريږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

په اسلام سپیڅلي دین کې د بشرحقوقود تیــوری جوړولــو کوښښــونه کیږي البته ددې طرحې په لیکلو کې له پوره هڅــو او پلټنوڅخــه ګټــه اخیستل کیږي، چې وړاندې هم پدې برخه کې ترسره شوې دي اصلي او بنسټیزه پوښتنه داده چې ایا د بشرحقوقو تر عنوان لانــدې کــوم نــوي علم ته اړتیا لیدل کیږي؟

د دویمې نړیوالې جګړې په تعقیب سره د نوي علم پېژنــدنې هغــه بنــه خپله کړه په کومې چې په ۱۹۴۸ کې د بشرحقوقو نړیوالې اعلامیې پــه ۱۹۵۰ کې دبشرحقوقو تړون او نړیوالو ژمنو په ۱۹۶۶ کــې د بشــرحقوقو ټینګار کاوو.

څرګنده ده چې له دې تړون څخه په زیاته کچه په هغو هیوادونو فشــار راوړ چې په داخلي اوضاع کې یې د بشرحقوقو اړوند کوم پرمختګ نه تر سترګو کیده، دغه ډول فشارونه د انسانانو د بشــري حقوقــو ســاتنه او ملاتړ کوي.

دغه امر د بشر حقوقود مثبت شکل ښکارندویي کوي خو له بده مرغه په عین وخت کې د حقوقو نړیوال خوځښت څخه د یــو سیاســي فشــار او سپکې وسیلې په توګه ختیځو اروپایي او د دریمې نړۍ هیوادونو نــاوړه ګټې واخیستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې سره سم د بشرحقوقو له نړيوال خوځښت څخه دې ډول تبعيضي ګټې اخيستنې سره د هغه اعلان شوي اصول بې ارزښته ښكاره شـول مونږ پدې اند يو د هيواد د كورنيو قوانينو وده په هغه ډول چې په نړيوالو كنوانسينونو كې ښكاره كړاى شوې ده، ددې علم لـه تفكيـك پرتـه د سياسي او حقوقي علوم د يوې موجوده ځانګې اومستقل علم په توګه به يو بې ارزښته امر وي.

هرهغه څه چې تر نورو ډير مهم دي هغـه دبشـرحقوقو د موضـوع پـه ارزښت باندې تمتيا (تمركز) كول دي.

له اسلامي پلوه لازمه ده چې د حقوقو او وجايبو تـرمينځ يـوه متقابلـه اړيكه موجوده وي بشرحقوق په موجود شكل چـې يـوازې پـه حقوقـو ټينګ دى او د نړۍ د ټولو خلكو په ګټه كوم كار نشي پـرمخ وړلاى، كـه چيرې مو په پاّم كې وي. كه چيرې د يوشيتمې پيړۍ وګړي له دې څخه د يو سياسي، اجتماعي او اقتصادي خراغ په توګه ګټه پورتـه كـړي نـو همدا نن بايدپه ځينو اقدماتو لاس پورې كړي، چې د خوځښـت شـكل ځانته دحقوقو او وجايبو څيره خپله كړي او د لا ښـې ګټـې اخيسـتنې لپاره ورته اصول او مقررات جوړكړي، كنه نو نشـو كـولاى چـې دبشـر حقوقو د نړيوالې اعلاميې له څو تشو شعارونو څخه د خدمت تمه وكړو.

د پاكې او قانوني غوښتنې د تحقق په لاره كې چې له اسـلامي ايـډياوو سره تر ډيره ورته ده، نو اسلامي هيوادونه بايد وړاندې شي ځكه هغـوۍ كولاى شي پخپل پينځلس سوه كلنو اسلامي حقوقو سره حقوقو ته پـه ارزښت وركولو كې ستره ونډه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته دا به د مسلمانانو لپاره ډېره شرمونکې وي، چې غربيان د تــش پــه نوم څو مخکنيو محدودو پيړيو سره د هغو په پېژندلو بريالي شي هغوی پدې برخه کې بشر حقوق د جنګي توکو په توګه کاروي او ګټه ورځخــه اخلي.

مسلمانان هغه وخت کولای شي پدې برخه کې ارزنده رول ولوبوي کلــه چې خپل اعمال د اسلامي انساني تيوری سره همغږي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (وحید الله کلیمزي) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له ژباړن او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ژباړلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# HUMAN RIGHTS IN ISLAM

Translated By:
Mohammad akbar niazi

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د ژباړن د خپرونو لړ: ۵
د تحریک د خپرونو لړ: ۹۰

۹۰

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**